بسم الله الرحمن الرحیم

د بحښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

قَالَ اللهُ تَعَالى:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا﴾

سوره الأحزاب: **۳۳**

**پاک الله فرمايي:**

"**بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو**ﷺ **له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے.**"

# د خدای پاک صفات

## په دوو مکتبونو کښې

قَالَ رَسُولُ الله ﷺ:

«إني تارکٌ فيکُمُ الثَقلين: کتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسکتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمايل:

زهٔ تاسو ته دوه درانه او ارزښتناک څیزونه پرېږدم: يو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبیت، که چیرې په دې دوو مو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه به يو له بله جدا کيږي نه تر دې چې د حوض (کوثر) په غاړه ما ته راورسيږي.

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک، ۱۴، ۱۷، ۲۲او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک، ۱۸۲ مخ، مستدرك حـاکـم، ۳ ټوک، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# د خدا ے پاک صفات

## په دوو مکتبونو کښې

لیکوال:
علامه سید مرتضیٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي

د اهل بیتو نړیواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد١٤ ؛ صفاة الله جل جلاله
نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري
تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیتعليهم السلام -اداره ترجمه
مترجم: سرفراز علي مهدي
زبان ترجمه: پشتو

**کتاب نوم:**
د خدا‌ے پاک صفات

ليکوال: علامه سيد مرتضیٰ عسکري
تيارونکې: د اهل بيتو د نړيوالې ټولنې د ژباړې څانګه
ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ايم اے عربي
تصحيح: انور شاهين خانخېل
وروستي کتنه: ډاکټر عبدالرحيم دراني
صفحه بندي: فاطمه ګلزار
چاپ نېټه: ١٤٣٧هـ ق (بمطابق ٢٠١٦م)
دچاپ وار: ومړی
شمېر: ٢٠٠٠
چاپ خانه: اسراء
خپرونکې: د اهلبيتو نړيواله ټولنه
ISBN: ٩٧٨-٩٦٤-٥٢٩-٠
www.ahl-ul-bayt.org

info@ahl-ul-bayt

# لړلیک


د خدای پاک ځینې صفتونه او په هغو کښې د اختلاف جرړه ⋗ ۱۱
۱- خدای تعالیٰ حضرت آدم د خپل ځان په شان پنځولی او پیدا کړی دی ⋗ ۱۱
۲- یدالله د خلفاؤ په مکتب کښې ⋗ ۱۳
۳- د خدای «پَنډی» او «قدم یا پښه» د خلفاو په مکتب کښې ⋗ ۱۹
۴- د خدای «مکان» او د هغهٔ «عرش» د خلفاؤ په مکتب کښې ⋗ ۲۳
۵- په قیامت او جنت کښې د خدای رؤیت (لیدل) ⋗ ۲۷
په جنت کښې د خدای پاک دیدار او لیدنه ⋗ ۳۲
د دغو روایتونو په سپیناوي او معنا کښې اختلاف ⋗ ۳۲
د اهلبیتو علیهم السلام په مکتب کښې د خدای صفتونه ⋗ ۴۱
۱- روایت «د آدم خلقت د خدای په صورت سره» د اهلبیتو علیهم السلام په مکتب کښې ⋗ ۴۲
د دې حدیث په څیړلو سره به، لاندیني ټکي روښانه شي ⋗ ۴۴
۲- د اهلبیتو علیهم السلام په مکتب کښې «یدالله» ⋗ ۴۷

۳- د اهلبېتوعليهم السلام په مکتب کښې د خدا ے «پَنډۍ» او «قدم یا پښه» ⋖ ۵۴
د «کشف ساق» په اړه حدیثونو جاج ⋖ ۵۷
۴- د اهلبیتوعليهم السلام په روایتونو کښې د «عرش» او «کرسۍ» تفسیر ⋖ ۶۰
د دواړو مکتبونو د روایتونو جاجونه او موازنه ⋖ ۶۲
۵- خدا ے پاک ته د مکان او حرکت او منتقل کېدو نسبت ورکول ⋖ ۷۳
د خدا ے لپاره د مکان لرلو شبهې ته عمومي او کلي ځواب ⋖ ۸۰
د دغو روایتونو جاج او موازنه ⋖ ۸۱
۶- رؤیت خدا (د خدا ے لیدل) د اهلبیتوعليهم السلام د روایتونو په رڼا کښې ⋖ ۸۴

## د خدا ے پاک ځینې صفتونه
## او په هغو کښې د اختلاف جرړه

ځینې مسلمانان داسې ګومان کوي چې:

### ۱- خدا ے تعالیٰ حضرت آدم دخپل ځان په شان پنځولے او پیدا کړے دے

په صحیح بخاری او صحیح مسلم او د ابن خزیمه په توحید کتاب کښې له ابوهریره روایت نقلوي چې وې ویل:

رسول الله ﷺ وفرمایل: «خدا ے تعالیٰ حضرت آدم د خپل شکل په څېر (یعني خپل ځان غوندې) پیدا کړۀ او د هغۀ قد شپیتۀ (٦٠) ذراعه[۱] ؤ، او د خلقت نه پس یې ورته وفرمایل:

---

۱. ذراع: له ګوتو څوکو نه تر څنګل پورې تقریبا پنځوس سانتي میتره(مترجم)

لاړ شه او هغو ناستو فرښتو ته سلام وکړه او د هغوي سلام هم واوره چې هغه به ستا او د ستا د اولاد سلام وګرځي. نو آدم همداسې وکړل او هغوي ته يې سلام وکړ: سلامتيا دې وي په تاسو، نو هغوي د آدم په ځواب کښې وويل: په تاسو دې هم سلام وي او د خدای رحمت هم: او د «رحمة الله» ټکی يې په سلام ورزيات کړ. پس، څوک هم چې جنت ته ننوځي نو د آدم په شکل به وي. او تر اوس مهاله انسانان ورو ورو ورکوټې کيدل، چې ښه وړوکي شول (په قد کښې لنډ، لکه مخکښې آدم شپيته ذراع ؤ نو اوس دومره لوی څوک نيشته). [1]

او هم دارنګ، په صحيح مسلم او مسند احمدبن حنبل کښې له ابوهريره روايت نقل کوي چې وې ويل:

---

۱. صحيح بخاري، کتاب الاستئذان، باب بدء السلام، ټوک۲، مخ ۵۹؛ صحيح مسلم، کتاب الجنة و صفة نعيمها، باب يدخل الجنة اقوام...، حديث ۲۸، مخونه ۲۱۸۳ او ۲۱۸۴؛ او توحيد ابن خزيمه، مخونه ۴۰ او ۴۱.

رسول ﷺ وفرمايل: «کله هم چې تاسو خپلو نورو ورونړو سره جګړه کوئ نو هغوي په مخ باندې له وهلو ډډه وکړئ ځکه چې خدا ے آدم د خپل ځان په څير پيدا کړے دے. [۱]

## ۲- يد اللّٰه د خلفاؤ په مکتب کښې

په صحيح بخاري او صحيح مسلم او سنن ابو داؤد او د ابن خزيمه په توحيد کتاب کښې له ابوهريره روايت نقلوي چې وې ويل: رسول الله ﷺ وفرمايل: «آدم او موسیٰ له يو بل سره مناظره وکړه. موسیٰ وويل: اے آدمه! تهٔ زمونږ پلار يې، مونږ د نااميده کړو او له جنت او بهشته دې اويستلو، آدم ورته وويل: تهٔ هم موسیٰ يې! خدا ے تهٔ د خپل ځان لپاره د کلام او خبرو کولو لپاره وټاکلې (کليم الله) او [تورات] يې ستا لپاره په خپل لاس سره وليکهٔ. نو آيا تهٔ ما

۱. صحيح مسلم، کتاب البر و الصلة و الآداب، باب النهى عن ضرب الوجه، حديثونه ۱۱۲او ۱۱۲، مخونه ۲۰۱۲او۲۰۱۷؛ په مسند احمد ټوک۲، مخونه ۲۴۴، ۲۵۱، ۳۱۵، ۳۲۳، ۴۳۴، ۴۲۳ او ۵۱۹ کښې دې معنې غوندې راغلي دي.

په داسې کار، ملامتوې چې کوم کار خدا ے پاک زما له خلقت نه څلو ښت کاله وړاندې، مقدر کړې ؤ.؟

پېغمبراکرمﷺ وفرمایل: «د آدم او موسیٰ مناظره ختمه شوه او موسیٰ په مناظره کښې کامیاب شو.»[1]

او همدا رنګ، په صحیح بخاري او مسلم او سنن ترمذي او سنن ابو داؤد او تفسیر طبري او تفسیر ابن کثیر او تفسیر زاد المسیر ابن جوزي او تفسیر سیوطی کښې له، عبداللّه بن مسعود څخه روایت نقل کوي چې وې ویل:

د یهودیانو یو عالم پېغمبراکرم ته ورغے او وې ویل: «ا ے محمد او ا ے ابوالقاسمه! خدا ے تعالیٰ د قیامت په ورځ

---

۱. صحیح مسلم، کتاب القدر، باب حجاج آدم موسیٰ، مخونه ۲۰۴۲ او۲۰۴۳، حدیثونه ۱۳، ۱۴ او ۱۵؛ صحیح بخاري، کتاب القدر، باب تحاج آدم و موسیٰ عنداللّه، ټوک۴، مخ ۹۸؛ کتاب التوحید، باب قوله «و کلم اللّه موسیٰ تکلیما»، ټوک۴، مخ ۱۹۹؛ سنن ابوداؤد، کتاب السنة، باب فی القدر، ټوک۴، مخ ۲۲۲؛ توحید ابن خزیمه، مخونه ۵۴او۵۷.

ټول آسمانونه په یوه ګوته اوچتوي او بیا یې خوځوي او داسې وائي: زهٔ د دې مالک او د دې واکمن یم.» نو رسول اللهﷺ د دې عالم له وېنا حېران شو او وخندید او د هغهٔ د خبرو تصدیق یې وکړ او دا ایت یې تلاوت کړ:

﴿وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾؛[1]

"هغوي، خدای (هغه شان لکه څرنګه چې د خدای د پېژندلو حق دے) نهٔ دے پېژندلے او د قیامت په ورځ ټوله زمکه د هغهٔ (په قدرت) قبضه کښې ده او اسمانونه به یې (د قدرت) په ښي لاس کښې نغښتي وي. هغه له هغه څه پاک او لوړ دے، چې هغوي یې ورسره شریکوي." او همدار

---

۱. سوره زمر: ۲۷.

رنګ، په صحیح بخاري او کنزالعمال کښې له ابوهریره روایت نقلوي چې وې ویل:

رسول اکرم ﷺ وفرمایل: «د خدای لاسونه ډک دي او هغه شپه ورځ انفاق او خیرات سره نه کمیږي او بیا یې وفرمایل: لکه څرنګه یې چې د زمکې او اسمان له پنځولو نه تر اوس مهاله پورې انفاق کړې او څه یې چې په لاس کښې وو هغه لږ شوي نهٔ دي او وې فرمایل: د هغهٔ عرش په اوبو باندې ولاړ دے او دا عرش د هغهٔ په بل لاس کښې دے او د تلې په شان کوزه پاسه کیږي.[۱]

او همداسې بل ځاے کښې له ابو هریره روایت نقل کوي چې وې ویل:

۱. صحیح بخاري، کتاب التوحید، ټوک۴، مخ ۱۸۷؛ کنزالعمال، ټوک۱، مخ ۲۲۴، حدیثونه ۱۱۳۰ او ۱۱۳۱؛ الترغیب و التذهیب، ټوک۲، مخ ۴۸؛ تفسیر ابن کثیر، ټوک۳، مخ ۱۲۲؛ تفسیر قرطبي، ټوک۷، مخ ۱۲۲؛ تفسیر سیوطي، ټوک۲، مخ ۵۲۲.

له رسول اکرمﷺ مې اوريدلي دي چې وې فرمايل: «خدا ے تعالیٰ زمکه په خپل قدرت سره قبضه کړے او نيولې ده او اسمان يې په خپل مضبوط لاس کښې نغښتے دے او وائي چې: زۀ سلطان يم او زۀ واکمن يم، د زمکې باچاهان او سلطانان چرته دي؟»[1]

او همدا رنګ د ابن خزيمه په توحيد کتاب کښې په «دخدا ے لپاره د لاس د ثابتولو باب کښې راغلي دي چې:لکه څنګه چې خدا ے تعالیٰ مونږ ته د قران په محکم ايتونو کښې خبر راکړے دے چې د خدا ے دوه لاسونه دي.[2]

هغۀ بيا د ايتونو په يوې مجموعې سره چې ـ دا لانديني ايتونه هم پکې دي ـ استدلال کړے دے:

---

۱. صحيح بخاري، ټوک۳، مخ ۱۲۲؛ صحيح مسلم، کتاب صفات المنافقين، حديث ۲۳، مخ ۲۱۴۸.

۲. توحيد ابن خزيمه، مخ ۵۳.

۱- ﴿ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ بَلۡ يَدَاهُ مَبۡسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيۡفَ يَشَآءُۚ ﴾؛[1]

"او یهودیان وائي چې د خدا ے لاس تړلے شوے دے، د دوي لاسونه دې تړلي وي او د هغهٔ څه په سزا کښې چې ویلي يې دي په دوي دې لعنت وي بلکې د هغهٔ (د رحمت او قدرت) دواړه لاسونه پرانستې دي او څنګه چې وغواړي انفاق او بخشش کوي (روزي ورکوي)."

۲- ﴿ فَسُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴾؛[2]

"نو پاک دے هغه ذات(خدا ے)، چې د ټولو څیزونو مالکیت او واکمني يې په لاس کښې ده او یوازې د هغه لوري ته به ورګرځول کیږئ."

---

۱. سوره مائده: ۶۴.
۲. سوره یس: ۸۳.

۳- ﴿وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ﴾؛[1]

"او چاته چې وغواړې عزت ورکړې او څوک چې وغواړې ذليل يې کړې. ټول خير ستا په لاس کښې دے بېشکه چې تۀ په هر څه قدرت لرې."

## ۳- د خدای پَنډۍ او قدم يا پښه د خلفاو په مکتب کښې

په صحيح بخاري او صحيح مسلم او مسند احمد بن حنبل کښې او د ابن خزيمه په توحيد کتاب کښې او د طبري او ابن کثير او سيوطي په تفسيرونو کښې له ابوهريره روايت نقل کېږي چې وې ويل:

رسول اللهﷺ وفرمايل چې: «بهشت او دوزخ يو بل سره مناظره کوي او په يو بل وياړ او فخر کوي، دوزخ وائي: زۀ

۱. سوره آل عمران: ۲۲.

د ظالمانو او کبَرجنو ته سزا ورکولو لپاره تیار شوے یم، او جنت وائي: نو دا په څه شوي دي چې یوازې کمزوري، بې وسه او عاجز خلق ما ته راننوځي، نو خدا ے پاک جنت ته وفرمایل: ته زما رحمت یې؛ او ستا په وسیله چې له خپلو بندګانو څخه هر یو وغواړم ورباندې رحمت وروم او جهنم ته یې وفرمایل: ته زما عذاب یې او ستا په وسیله له خپلو بندګانو څخه چې هر چا ته وغواړم عذاب ورکوم؛ او تاسو دواړه ډک شئ خو جهنم به نۀ مَړیږي ان تر دې چې خدا ے به خپله پښه په هغه کښې کیږدي نو جهنم به بس دے بس دے غږونه وکړي (چې موړ شوم). [1]

---

۱. صحیح بخاری، کتاب التفسیر، تفسیر سوره ق او کتاب التوحید، باب ان رحمة اللّٰه قریب من المحسنین، ټوک۴، مخ ۱۹۱؛ سنن ترمذی، کتاب صفة الجنة، ټوک۴، مخ ۲۹۲؛ صحیح مسلم، کتاب الجنة، باب النار یدخلها الجبارون و...، حدیثونه ۳۵ او۳۸، مخ ۲۱۸۲ او ۲۱۸۷؛ توحید ابن خزیمه، مخونه ۹۲ـ۹۸؛ تفسیر طبری، ټوک۲۲، مخ ۱۰۵؛ تفسیر ابن

او همدا رنګ په صحیح بخاري او صحیح مسلم او سنن ابوداؤد او مسند احمد بن حنبل کښې له ابوسعید روایت نقلوي چې وې ویل:

وامې وریدل چې رسول اکرمﷺ فرمایل چې: «زمونږ رب او پروردګار به خپله پنډۍ ښکاره کړي او ټول مومنان او مومنې ښځې به ورته سجده کوي مګر هغه کس چې په دنیا کښې یې ریا کاري او شهرت لپاره سجده کړې وي که هغه کس سجده کول هم وغواړي نو د هغهٔ شا او ملا به نیغېږي او سجده به نهٔ شي کولې.[1]

---

کثیر، ټوک۴، مخونه ۲۲۲ او ۲۲۸؛ تفسیر سیوطی، ټوک۶، مخ۱۰۶.

۱. صحیح بخاری، کتاب التفسیر، باب تفسیر سورة القلم؛ صحیح مسلم، کتاب الایمان، باب معرفة طریق الرؤیة، حدیث ۳۰۲، مخونه ۱۲۷ او ۱۲۸؛ سنن ابو داود، کتاب الرقاق، باب فی سجود المؤمنین یوم القیامة، ټوک۲، مخ۳۲۶؛ مسند احمد، ټوک۳، مخ۱۷؛ تفسیر طبری، ټوک۲۹، مخ۲۴؛ تفسیر ابن

د دې روايت تفصيل په صحيح بخاري، کتاب التوحيد کښې، د ابوسعيد خدري له قوله داسې راغلے:

وائي: رسول اللهﷺ نه مې پوښتنه وکړه: آيا مونږ به د قيامت په ورځ خپل پروردګار وينو؟ وې فرمايل:... د قيامت په ورځ به اعلان کوونکے اعلان وکړي چې هر چاچې په دنيا کښې د څه عبادت کوۀ نو اوس دې د هغۀ لورې ته ورشي... يوازې خدا ے پرسته چې نېکان او بدان وي به په ځا ے پاتې شي، هغوي ته به ويل کيږي څه شي تاسو ايسار کړي يئ ټول خلق خو لاړل. دوي به ورته وائي چې مونږ له هغوي جدا شوي يو او نن مونږ هغۀ [خدا ے] ته اړمن او محتاج يو مونږ واوريدل چې منادي وويل چې چا د څه عبادت کړې وي د هغۀ په لور ورشئ نو مونږ د خدا ے عبادت کړے دے او مونږ د خدا ے په انتظار يو، پېغمبراکرمﷺ وفرمايل: پس له دې به خدا ے تعالیٰ هغوي ته ورشي او وائي به: زۀ

---

کثير، ټوک۴، مخ۴۰۷؛ او تفسير سيوطي، ټوک۲، مخونه ۲۵۴او ۲۵۲.

ستاسو خدا ے او پروردګار يم، هغوي به وائي چې تهٔ زمونږ پرودرګار نهٔ يې او بې له پيغمبرانو بل څوک به ورسره خبرې نهٔ کوي، ورته به وويل شي ايا ستاسو پرودګار څه نخښه هم لرله چې له هغه يې وپيژنئ؟ وائي به چې: هو! پنډۍ! نو خدا ے به خپله پَنډۍ راڅرګنده کړي او ټول مومنان به ورته سجده وکړي.[1]

## ۴- د خدا ے مکان او د هغهٔ عرش د خلفاؤ په مکتب کښې

ځينې مسلمانان دا عقيده لري چې د خدا ے لپاره يو خاص مکان او ځا ے د ے او کله کله له يو ځايه بل ځا ے ته ځي او منتقليږي کله په عرش باندې کښيني او کله کله زمکې ته راکوزيږي او بيا اسمان ته پاس خيژي.

---

۱. صحيح بخاري، کتاب التوحيد، باب قوله وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة، ټوک۴، مخ۱۸۹.

په سنن ابن ماجه او سنن ترمذي او مسند احمد بن حنبل کښې له ابو رزين څخه روايت نقل کوي چې وې ويل:

رسول اللهﷺ ته مو عرض وکړ: يا رسول الله! زمونږ پروردګار د انسانانو له پېدا کولو نه وړاندې چرته ؤ؟ وې فرمايل: په عماء کښې ؤ ـ يعنى هيڅ څيز هغۀ سره نۀ ؤ او هغه يوازے ؤ. له هغۀ پاسه هم هوا او فضا وه او د هغۀ لاندې هم هوا او فضا وه او هيڅ کوم بل مخلوق هلته نۀ ؤ او د هغۀ عرش په اوبو باندې ولاړ ؤ.[1]

او په بل روايت کښې راغلي دي چې هغه حضرت وفرمايل:

د هغۀ عرش په اسمانونو باندې داسې دے: هغۀ د خپل لاس ګوتې، د ګنبد په شان راټولې کړې او وې فرمايل: اِد

---

۱- سنن ابن ماجه، حديث ۱۸۲؛ سنن ترمذي، د هود سورت تفسير، وروميے حديث؛ مسند احمد بن حنبل، ټوک۴، مخونه ۱۱ او ۱۲.

خدا ے د دروند والي په وجه] هغه عرش لکه چې په اوښ باندې زيات سامان وي او اواز کوي (چغې وهي). [۱]

او په صحیح بخاري او صحیح مسلم او سنن ابوداؤد او سنن ترمذي او سنن ابن ماجه او دارمي او موطأ مالك او مسند احمدبن حنبل کښې له ابوهريره روايت نقل کوي چې وې ويل:

رسول اکرمﷺ وفرمايل: «خدا ے پاک د شپې په ورستي وخت کښې، د دنيا اسمان ته راکوزيږي او فرمائي چې: ايا څوک له ما سوال او غوښتنه لرئ چې زۀ يې قبوله کړم، او

۱- سنن ابوداؤد، کتاب السنة، حديث ۴۷۲۲؛ سنن ابن ماجه، مقدمه؛ سنن دارمي، کتاب الرقائق او همدارنګ مراجعه وکړئ دغو کتابونو ته: د محمد بن عبد الوهاب کتاب التوحيد تولد ۱۲۰۲ هجرى؛ منهاج السنة ابن تيميه.

ځوک له ما غواړي چې ورته خپله ورکړه او عطا وبخښم....»[۱]

او هم دا رنګ یې وفرمایل: «د شعبان په پینځلسمه شپه د دنیا اسمان ته راکوزیږي او خلق بخښي.»[۲]

او وائي هم دا رنګ یې د قیامت په حقله وفرمایل:

---

۱. صحیح بخاري، کتاب التهجد، باب الدعاء و الصلاة فی آخر اللیل و کتاب التوحید و کتاب الدعوات، باب الدعاء نصف اللیل؛ صحیح مسلم، کتاب الدعاء، باب الترغیب فی الدعاء و الذکر فی آخر اللیل؛ سنن ابو داؤد، حدیث ۴۷۳۳؛ سنن ترمذي، ټوک۲، مخونه ۲۳۳ او ۲۳۵ او ټوک۱۳؛ مخ۳۰؛ سنن ابن ماجه، حدیث ۱۳۲۲؛ سنن دارمي، کتاب الصلاة؛ موطأ مالك، کتاب القرآن، باب ۳۰؛ مسند احمدبن حنبل، ټوک۲، مخونه ۲۲۴،۲۲۷، ۲۸۲، ۴۱۹، ۴۳۳، ۴۸۷، ۵۰۴او ۵۲۱او ټوک۳، مخ۳۴ او ټوک۴، مخ۱۲.

۲. سنن ترمذي، ابواب الصوم؛ سنن ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة؛ مسند احمدبن حنبل، ټوک۲، مخ۴۳۳.

«جهنم به ته ویل کیږي: آیا موړ او ډک شوې؟ وائي به: هَل مِن مَزَیدٌ، آیا څه نور څه شته که نه؟ نو خدای تعالیٰ به خپله «پښه» په هغۀ کښې کیږدي او جهنم به چغې پورته کړي چې: بس دے، بس دے (یعنې موړ شوم)!»

او په بل روایت کښې راغلي دي چې وې فرمایل:

«جهنم به مړیږي او ډکیږي نه تر دې چې خدای تعالیٰ به خپله پښه په جهنم کښې کیږدي او جهنم به غږ وکړي چې بس دے بس! نو په دې وخت کښې به موړ او ډک او ګډ وډ شي.»[1]

## ۵- په قیامت او جنت کښې د خدای رؤیت (لیدل)

د خلفاو د مکتب راویانو روایت نقل کړے دے چې رسول اللهﷺ به، په قیامت کښې خپل پروردګار وینې وائي چې

۱. دا روایت د مشهور صحابي ابوهریره له قوله دے چې د قاف سورت په تفسیر کښې یې راوړے دے د صحیح بخاري، ټوک۳، مخ۱۲۸، کښې راغلے او هم دا رنګ په باب وجوه یومئذ ناضرة د التوحید باب، ټوک۴، مخ۱۹۱ کښې هم راغلے دے.

پېغمبراکرمﷺ فرمايلي دي چې: پس له دې چې ټول پېغمبران له شفاعته مخ واړوي نو مومنان به ماته راشي زۀ به د پروردګار درګاه ته ورشم او د ننوتلو اجازه به واخلم پس له اجازې به زۀ خپل پروردګار وينم او ورته به سجده وکړم... د حديث تر آخره پورې.[1]

وائي هم يې داسې فرمايلي دي چې:

«خدا ے تعالیٰ به د قيامت په ورځ خپلو بندګانو ته راکوزيږي چې د هغو تر مينځ قضاوت او فېصله وکړي.»[2]

او وائي داسې يې هم فرمايلي دي چې: «تاسو به ډېر زر خپل پروردګار په ښکاره توګه ووينئ.»[3]

اووائي دا يې هم فرمايلي دي چې:

---

۱. صحيح بخاري، کتاب التوحيد، ټوک۴، مخ۱۸۵ او له زيات تفصيل سره، ټوک۴، مخ۱۹۰.

۲. سنن ترمذي، کتاب الزهد، ټوک۹، مخ۲۲۹.

۳. صحيح بخاري، کتاب التوحيد، ټوک۴، مخ۱۸۸.

«مسلمانان به د قیامت په ورځ خپل پروردګار لکه د سپوږمۍ وینې او هیڅ کوم رش او تکلیف یا تنګوالی به نهٔ جوړیږي.»[۱]

او خدای تعالیٰ به په هغه ورځ فرمائي:

«په دنیا کښې چې چا د څه عبادت کړي وي په هغهٔ پسې دې ورشي نو ځینې به نمر پسې ځې او ځینې به په سپوږمۍ پسې ځي، او ځینې به استکبارانو او طاغوتیانو پسې ځې او د پېغمبر ﷺ امت به له منافقانو سره په خپل ځای ولاړ پاتې وي. نو خدای پاک به د یو ناپیژانده کس به توګه هغوی ته ورشي ورته به ووائي چې: زهٔ ستاسو پروردګار یم. هغوی به ووائي مونږ خدای ته له تا پناه غواړو! مونږ به دلته تر هغه پورې ولاړ یوو چې زمونږ پروردګار دلته راشي او کله چې هغه راشي نو هغه مونږ پیژنو، نو خدای به خپل

۱. صحیح بخاري، کتاب التوحید، او کتاب الصلاة، او کتاب التفسیر؛ صحیح مسلم، کتاب الصلاة؛ سنن ترمذي، ټوک ۱۰، مخونه ۱۸ او ۲۰.

شکل هغه شان کړي چې کوم شکل کښې یې مومنان پیژني نو دوي ته به ووائي چې زۀ ستاسو پروردګار یم نو هغوي به ووائي چې هو! هم تۀ زمونږ خدای یې، او ورپسې به روان شي.»[۱]

او په بل روایت کښې وائي:

«[هر یو کس دې خپل معبود پسې لاړ شي] ان تر دې چې د خدای عبادت کوونکو نه علاوه ـ نیکوکاره او که بدکاره ـ بل څوک به هلته پاتې نۀ شي. نو خدای به په هغه شکل کښې چې هغه یې لیدلې ؤ هغوي ته ورشي او هغوي ته به ووېل شي چې د څه انتظار کوئ؟ هر امت او ډلې چې د څه عبادت یې کوۀ په هغو پسې روان شول. وائي به: مونږ...د خپل پروردګار چې په دنیا کښې مو د هغۀ عبادت کوۀ په انتظارکښې یوو. خدای به ورته وفرمائي: زۀ ستاسو پروردګار یم هغوي به دوه یا درې ځله ووائي چې مونږ

۱. صحیح مسلم، کتاب الایمان؛ صحیح بخاري، کتاب التوحید، ټوک۴، مخ۱۸۸.

خدای سره څه بل څه شریک نه ګڼو. هغه به ورته وفرمائي چې: آیا ستاسو او د خدای تر مېنځ څه نښه نښانه شته چې له هغې یې وپېژنئ؟ وائي به: هو!... «پَنډۍ» نو خدای به خپله «پَنډۍ» راښکاره کړي او دوي به ورته سجده وکړي بیا چې کله سَرُونه اوچت کړي نو وبه ګوري چې خدای، په هماغه وړومبي شکل کښې بدل شوی دی چې دوي په وړومبي ځل لیدلی ؤ نو هغه به وائي چې زۀ ستاسو پروردګار یم هغوي به وائي: هو ته زمونږ پروردګار یې.»[1]

۱. صحیح مسلم، کتاب الایمان، حدیث ۲۲۹؛ صحیح بخاري، د نساء سورت په تفسیر کښې، ټوک۳، مخ ۸۰ او کتاب التوحید، ټوک۴، مخ۱۹۸. کاشکې د خدای کتونکي په مونږ دا احسان کړې وې چې د خپل خدای کوم مخ یې لیدلی وي او کومه پنډۍ چې د هغوي تر مینځ نښه وه، مونږ ته بیان کړې وې چې له دې فضیلته وروسته نۀ وې پاتې شوي او مونږ به ترې ډیره شکریه ادا کړې وه!

## په جنت کښې د خدا ے پاک دیدار او لیدنه

روایت یې کړې دے چې رسول اللهﷺ د جنتي مؤمنانو په حقله فرمایلي دي:

«مؤمنانو او په جنت فردوس کښې د خدا ے لیدلو تر مینځ، د خدا ے د کبریایي ردا نه علاوه بل څه فاصله نیشته.»[۱]

نو کله چې جنتیان هغۀ ته ننوځي، نو خدا ے تعالیٰ به فرمائي:

بل څه غواړئ چې درته درکړم؟ هغوي به ورته وائي: آیا مونږ دې نېکمرغه او سعادت من نه کړو؟ آیا په جنت کښې دې ځا ے رانۀ کړ او د دوزخ له اووره دې نجات رانۀ کړ؟ نو، خدا ے پاک به خپل حجاب او پرده پرانیزي (او خدا ے به

۱. صحیح بخاري، کتاب التوحید، ټوک۴، مخ۱۹۱؛ صحیح مسلم، کتاب الایمان، حدیث ۲۹۲.

وګوري) نو هغو په نزد به، د خدای تعالیٰ د دیدار نه محبوب شی بل څه نۀ وي.»[۱]

او روایت کړے شوے چې رسول د خدای ﷺ وفرمایل:

په هماغه حال کښې چې جنتیان په نعمتونو کښې غرق وي ناڅاپه به یو ځلانده نور په هغوي وځلیږي نو چې سرونه اوچت کړي نو ګوري به چې پاک الله د هغوي د پاسه ولاړ دے او فرمائي: «درود او سلام دې وي په تاسو اے جنتیانو!» پېغمبراکرم ﷺ وفرمایل: دا په قران پاک کښې د پاک الله هماغه وېنا ده چې فرمائي: «سلامٌ قولاً من ربّ رحیم» او پېغمبر وفرمایل: له دې وروسته به خدای د هغوي تماشا کوي او دوي به د خدای تماشه کوي او تر څو چې دغه دیدار جاري وي نو هغوي به بل نعمت ته هډو پام نۀ کیږي ان تر دې چې خدای د هغوي له سترګو غیب او پناه شي او د هغۀ نور او برکت به په ځای پاتې کیږي.»[۲]

---

۱. صحیح مسلم، کتاب الایمان، حدیث ۲۹۷.
۲. سنن ابن ماجه، مقدمه، حدیث ۱۸۴.

او وائي، هم دا رنګ یې فرمایلي دي:

...د خدای په نزد قدرمن جنتي هغه کس دی چې سحر او ماښام د خدای مخ ویني. بیا، رسول اکرمﷺ د دې ایت تلاوت وکړ: ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۝ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾؛ په هغه ورځ به ځینې څیرې او مخونه خوشحاله وي او خدای ته به کتونکي وي.[۱]

او روایت نقل شوی چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي چې:

«بهشتیان به د خدای د زیارتې (لیدنې) لپاره لاړ شي او خدای به خپل عرش هغو ته ورښکاره کړي او د جنت په یو باغ کښې به خپل ځان وروښائي او په هغه مجلس کښې به بل څوک نه وي مګر دا چې خدای له هغوي سره خبرې وکړي دومره پورې چې په تاسو بهشتیانو کښې ځینو ته فرمائي: فلانکیه! ایا په فلانکۍ ورځې د یاد دي چې تا څه څه کړي وو؟ هغه به په ځواب کښې وائي: پروردګاره! زه د

۱. سنن ترمذي، کتاب صفة الجنة، ټوک ۱۰، مخونه ۱۸-۱۹.

نۀ یم بخښلې؟ هغه به وفرمائي: ولې نۀ بخښلې مې یې.....
بیا به مونږ جنتیان خپلو کورونو ته بېرته راګرځوو او زمونږ
ښځې به زمونږ ملاقات لپاره راځي او مونږ ته به وائي چې
په خیر راغلئ، ستړي مۀ شئ تاسو په داسې حال کښې
راستانۀ شوئ چې مخونه مو ډېر زیات نوراني، ښائسته او
خوشبو داره شوي دي نو مونږ به ورته وایو، چې نن مونږ
خپل پروردګار سره وو او باید همداسې ښائېسته راستانۀ
شو و او مونږ د دې حقدار یوو.»[1]

****

په قیامت کښې د خدا ے تعالیٰ د لیدلو او د هغۀ د
اندامونو او اعضاؤ د صفت په اړه په هم دومره روایتونو
بسنه کوو او هم دومره شمېر د بېلګې او مثال لپاره بس ګڼو
ځکه چې مونږ د دې ټولو موردونو د شمېرلو او راټولولو

---

۱. سنن ابن ماجه، کتاب الزهد، حدیث **۴۳۳۲**، مخونه **۱۴۵۱** او **۱۴۵۲**؛ سنن ترمذي، ابواب صفة الجنة، ټوک ۱۰، مخونه ۱۲ او ۱۷.

نیت او اراده نۀ لرو. په راتلونکي بحث کښې د دې حدیثونو د معناو او د سپیناوي په اړه اختلاف، څیړو.

## د دغو روایتونو په سپیناوي او معنا کښې اختلاف

ځینې مسلمانانو د دې حدیثونو په ظاهر باندې ایمان راوړے دے او په دې ایمان یې، په خدا ے باندې د ایمان او د خدا ے په توحید باندې د عقیدې لرلو دلیل ګڼلې، او نور کسان، کوم چې د دې حدیثونو معنا له جسمیت نه بغېر بولي، «معطِّلة الصفات» نوموي، یعني د خدا ے د صفتونو ختمونکي یا د خدا ے صفتونو ته، پام نۀ کوونکي بلي!

مسلم په خپل صحیح کښې په ایمان نومې کتاب کښې لیکلي دي او بخاري هم په خپل صحیح کښې په توحید کتاب کې راوړي دي.

ابن خزیمه خو په دې اړه یو بیل او ځانګړے کتاب د توحید او د پروردګار د صفتونو اثبات په نوم لیکلے دے او دغه ټول حدیثونه یې صحیح ګڼلي دي. او باوري دے چې ټول

حدیثونه عادلانو له نورو عادلو کسانو نقل کړي دي او په موثق او با اعتماده راویانو نیوکه روا نهٔ ګڼي.[۱]

د ابن خزیمه د کتاب د بابونو لړلیک داسې د ے:

خدا ے لپاره د نفس اثباتول

خدا ے لپاره د ځیرې او مخ اثباتول

د پروردګار د «صورت» د ذکر باب

د خدا ے لپاره د «سترګو د ثابتېدو» باب

دخدای لپاره د «اوریدلو او لیدلو د ثابتیدو» باب

د خدا ے لپاره د «لاس د ثابتولو» باب

د پاک خدا ے لپاره د «پښې د ثابتولو» باب

۱. ابن خزیمه، محمد بن اسحاق، لو ے حافظ او د مکتب خلفاو د امامانو امام د ے د وفات نېټه ۳۱۱ هجري، په حدیث کښې د بخاری او مسلم استاد د ے. د هغه کتاب په ۱۳۷۸ هجری کال کښې په قاهره کښې چاپ او خپور شو ے د ے د هغه ژوند لیک د کتاب په مقدمه کښې ولټوئ.

د دې باب چې «ټول مومنان به د خدا ے پاک تماشه او نظاره کوي»

د دې باب «چې ټول مومنان به د قیامت په ورځ خدا ے پاک ویني»

او همدا رنګ،امام حافظ عثمان بن سعید الدارمي (د زوکړې کال ۲۸۰ هجري) د خپل کتاب ځینې بابونه یې د جهمیه ډلې د عقیدو په ردولو کښې داسې راوړي دي:

د شعبان د پینځلسمې شپه د [خدا ے پاک] د نازلیدلو باب

د عرفې په ورځ د [خدا ے پاک] د نازلیدلو باب

د قیامت په ورځ د حساب اوکتاب لپاره د خدا ے پاک د نازلیدلو باب

د جنتیانو لپاره د خدا ے پاک د نازلیدو باب

د خدا ے پاک د لیدو باب[1]

---

۱. دا کتاب په ۱۹۲۰ میلادي کال کښې په لیدن کښې چاپ شوی دی.

او همدارنګ، ذهبي[1] په خپل کتاب «العلوّ العال للعلیّ الغفار» کښې داسې ایتونه او حدیثونه راوړي دي چې د خلفاو د مکتب پیروان د پوهې او فهم په مطابق، له علو څخه مراد د خدا ے مکاني علو او لوړتیا ده، هغهٔ بیا د دې نظریې د تاییدولو په هدف، د صحابه ؤ او علماو او محدیثینو اقوال بیان کړي دي.

---

۱. امام حافظ شمس الدین محمد بن احمد بن عثمان بن قایماز الذهبی تولد ۷۴۸ هجری د هغه کتاب په مدینې منورې کښې د وهابیانو د خرڅځای په ۱۳۸۸ هجری کال کښې دوهم چاپ سره خپور شوی دی.

# د اهلبېتو علیهم السلام په مکتب کښې
# د خدا ے صفتونه

د خدا ے تعالیٰ د صفتونو په اړه مو د ځینو مسلمانانو روایتونه د ابو هریره او له ابو هریره نه علاوه د نورو په استناد سره ذکر کړل. دا ډول شبهې چې د یهودو د تورات له افکارو څخه د متاثر کېدنې او د قران پاک له لفظي او ظاهرې معنې سره د تمسک لامله دي اهلبیتوامامانو علیهم السلام دغو شبهو ته په ښه ډول ځوابونه ورکړي دي. اوس، د اهل بیتو علیهم السلام د تعلیماتو په رڼا کښې دا روایتونه، څېړو.

## ۱- روایت د آدم خلقت د خدا ے په صورت سره د اهلبېتو علیهم السلام په مکتب کښې

**اهل بیتو امامانو** علیهم السلام د ابوهریره د روایتونو یعنې «آدم په خپل شکل کښې پېنځول» حقیقت په دا ډول بیان کړے دے چې فرمائي:

**حسین بن خالد** وائي: حضرت امام رضا علیه السلام ته مو وویل: اے د رسول الله صلی الله علیه وآله نمسیه! خلق روایت نقلوي چې رسول اکرم صلی الله علیه وآله فرمایلي چې: خدا ے ادم د خپل شکل و صورت غوندې پېنځولے دے. نو امام علیه السلام وفرمایل: «خدا ے دې هغوي تباه کړي چې د حدیث وړومبۍ برخه يې حذف(لرې) کړې ده حقیقت دا دے چې رسول الله صلی الله علیه وآله یوه ورځ د دوو کسانو څنګته تیرېدۀ چې هغوي دواړو یو بل ته کنځلې کولې او واې وربدل چې یو پکې بل ته ي ویل: خدا ے دې تا او ستا په شان نور کسان سپک او بدرنګه کړي. نو پېغمبر ورته وفرمایل: اے د خدا ے بنده! دا خپل انساني

ورور ته مۀ وایه ځکه چې خدا ے آدم (انسان) د هغۀ په شکل (هم شکل) خلق کړے د ے.[۱]

په بل روایت کښې ـ له وړومبي روایت سره نزدې مضمون سره ـ له ابو الورد بن ثمامه او هغه یې له امام علي علیه السلام نقلوي چې وائي:

پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله واوریدل چې یو کس بل ته داسې ویل: خدا ے دې ستا مخ او ستا په شان د نورو مخ کسان خراب او بدرنګه کړي. نو هغۀ حضرت ورته وفرمایل: خوله دې بنده کړه غلے شه او دا خبره مۀ کوه ځکه چې خدا ے پاک ادم (انسان د هغۀ په شکل کښې پېدا کړے د ے (یعني انسانان یې هم شکله پېدا کړي دي).»[۲]

او په بل روایت کښې وائي: امام ابوالحسن موسیٰ کاظم علیه السلام ته مو لیک ولیږۀ او له هغه حضرته مو د خدا ے

۱. توحید صدوق، د تهران چاپ، د ۱۳۸۷ سپوږمیز هجري کال، مخ۱۵۳.
۲. هماغه، مخ۱۵.

پاک د جسم او شکل او صورت په حقله پوښتنه وکړه نو هغه بزرګوار زما په ځواب کښې ولیکل چې:

«سُبحانَ مَن لَیْس کَمِثلِهِ شَیءٌ لاجِسمَ وِلا صُورة» ؛

«پاک دې هغه خدای چې هیڅ کوم شی د هغه په شان نیشته هغه نۀ جسم لري او نۀ مخ.»[۱]

## د دې حدیث په څیړلو سره به، لاندیني ټکي روښانه شي

وړومبی: د حدیث د وړومبۍ برخې حذفېدل

کوم روایت مو چې له ابوهریره رواړی دی په هغۀ کښې د خدای د ګران رسول ﷺ وړومبۍ برخه حذف شوې ده. یعنې دا عبارت چې: رسول د خدای ﷺ یوه ورځ د دوو کسانو څنګته تیریدۀ چې هغوي دواړو یو بل ته کنځلې کولې او وائې ورېدل چې یو کس بل ته ویل: خدای دې تا او ستا په شان نور کسان سپک او بدرنګه کړي.

---

۱. هماغه، مخ۱۰۲، حدیث ۱۲.

پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله هغۀ ته وفرمايل: دا خبره خپل ورور ته مۀ کوه دا ټول حذف شوي دي!

د حديث وړومبی برخه چې ډېر اهميت لري حذف شوې ده او يوازې وروستی برخه يې چې ويل يې: «انّ اللّه خلق آدم على صورته» يې نقل کړې ده او دې حذف سره داسې ګومان کيږي چې د ها ضمير په صورته کښې خدا ے ته ګرځي او اوريدونکي دا تصور کوي چې پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله فرمايلي چې خدا ے تعالیٰ ادم په خپل شکل يعني د خدا ے په شکل کښې پېدا کړے د ے.(حال دا چې ها ضمير په خپله هغه وړومبي کس ته ګرځي. مترجم).

دويم: د ابو هريره په حديث کښې د دوو څيزونو زياتوالے

الف- د دويم حديث په ابتدا کښې له رسول اللّه صلی الله علیه وآله څخه نقل شوي وو چې: څوک چې خپل مسلمان ورور سره جګړه کوي نو د هغۀ په مخ له څپيړې ورکولو دې ډډه وکړي دا عبارت د دې حديث د حذف شوې وړومبی برخې يو بل تحريف ؤ چې مخکې مو ورته اشاره وکړه.

ب- د وړومبي روایت په آخر کښې له رسول اکرمﷺ څخه داسې نقل شوي وو چې ابو هرېره وویل: رسول د خدا ےﷺ وفرمایل: خدا ے پاک ادم د شپیتو ذراع ـ یو ذراع تقریباً دېرش سنتي میتره وي ـ اوږد خلق کړ چې دا خبره هم د ننني زمانې له سائېنسي او علمي معلوماتو سره سمون نۀ خوري.

د ابو هریره د حدیث په دې برخه کښې له ځیرتیا وروسته دا تر لاسه کیږي چې هغه، د تورات د خلقت او پېدایش په اړه له افسانو څخه ډېر زیات متاثر شوے ؤ، هغه افسانې چې ابو هریره خپل معلومات له هغو تر لاسه کړي وو.

له همدې امله ویلو شو چې ابوهریره د پیغمبراکرمﷺ د حدیث یوه برخه حذف کړې ده. او حدیث یې داسې جوړ کړے چې د تورات له روایتونو سره مطابقت ولري، بلکې له ځانه یې هم پکښې زیاتے او اضافه کړې ده چې په تورات کښې د خلقت په اړه افسانې سره سمون وخوري، او دا هم ممکنه ده چې د هغه دا دواړه روایتونه له اسرائیلیاتو

(جعلي او دروغ) وي او د مسلمانانو په کلتور کښې داخل شوي وي.

خو په دې وجه چې دا حديثونه له يو مشهور صحابي لکه ابوهريره څخه نقل شوي دي نو د خلفاو د مکتب پيروکار له هغۀ سره تمسک کوي او پرې يې عمل کوي او ګومان يې پېدا کړے چې خدا ے هم د انسان په څېر اعضا او اندامونه لري. په همدې خاطر، د قران پاک په هر ځا ے کښې هم چې د خدا ے پاک د وجه ټکے راغلے د ے لکه: «وجه ربك» نو هغه يې په لغوي معنا، چې د انسان او حيوان د بدن يو اندام د ے تفسير کړے د ے.

## ۲- د اهلبېتو علیهم السلام په مکتب کښې «يدالله»

د اهلبيتو علیهم السلام په روايتونو کښې د يدالله تفسير او معنا داسې شوې ده:

محمد بن مسلم وائي له امام باقر علیه السلام مې پوښتنه و کړه: دا چې خدا ے پاک فرمائېلي دي چې: ﴿ يَـٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن

تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّ ۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ ﴾؛ اې ابليسه! تا ولې هغه شي ته چې ما په خپل لاس جوړ کړې ؤ سجده ونۀ کړه؟" [په دې ايت کښې له يد نه مراد څه دے؟] امام‌علیه‌السلام وفرمايل: يد د عربو په ژبه کښې د طاقت او توان او نعمت په معنې سره راځي، لکه پاک الله فرمايلي دي چې: ﴿ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِ ﴾؛ "او زما طاقتور او توانمن بنده داود ياد کړه" او په بل ځاے کښې بې هم فرمايلي دي چې ﴿وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٍ﴾؛ "او آسمان مو په خپل قدرت سره جوړ کړ." او په بل ځاے کښې فرمائي: وَأَيَّدَهُم ﴿ بِرُوحٍ مِّنۡهُ ﴾؛ "او هغوي مو په خپل روح سره قدرتمن کړل." لکه داسې هم ويل کيږي: «لفلان عندی أيادی کثير»؛ «فلانکي په ما ډېر زيات فضل او احسان کړے دے.» او دا چې «له عندی يدی بيضاء»؛ «هغۀ ما ته زيات نعمتونه راوبخښل.»[1]

---

۱. توحيد صدوق، مخ۱۵۳، لومړې حديث.

همدا رنګ محمد بن عبیده وائي: له امام رضا علیه السلام څخه مې په دې آیت کښې چې خدای پاک شیطان ته فرمائي ﴿يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ﴾؛[۱] "ای ابلیسه! تا ولې هغه شي ته چې ما په خپل لاس جوړ کړې ؤ سجده ونهٔ کړه ایا ځان دې لوی وګڼهٔ؟" د ((ید)) د تفسیر په حقله پوښتنه وکړه نو امام وفرمایل: «یعنی په خپل قدرت او طاقت سره.»[۲]

او همدار نګ، محمد بن عیسیٰ بن عبید وائي: له لسم امامه، علی بن محمد عسکري علیه السلام نه مې د دې ایت: ﴿وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعٗا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦ﴾؛[۳] "او د قیامت په ورځ ټوله زمکه د هغه

۱. سوره ص: ۷۵.
۲. توحید صدوق، مخونه ۱۵۳-۱۵۴، دویم حدیث.
۳. سوره زمر: ۲۷.

(په قدرت) قبضه کښې ده او اسمانونه به يې (د قدرت) په ښي لاس کښې نغښتي وي." په اړه پوښتنه وکړه وې فرمايل: د خدای تعالیٰ دا تعبير د هغو کسانو لپاره دی چې کوم خدای پاک د نورو مخلوقاتو په شان او د هغو شبيه ګڼي. ايا ليدلي دې نهٔ دي چې فرمايلي يې دي: ﴿ وَمَا قَدَرُواْ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦٓ﴾ ؛ "هغوي، خدای لکه چې وړ دی(هغه شان لکه څرنګه چې د خدای د پېژندګلو حق دی) نهٔ دی پېژندلی" يعنی چونکه دا يې ويل چې: د قيامت په ورځ به زمکه د خدای په لاس او پنجه کښې او اسمان به هم د هغهٔ په ښي لاس کښې نغښتی وي. نو ځکه خدای پاک وفرمايل چې لکه څنګه د خدای د پيژندلو حق دی هغسې مو ونهٔ پيژندهٔ. ځکه چې هغوي دا هم ويل چې: ﴿ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٖ مِّن شَيۡءٖ ﴾؛[1] "خدای په هيچا څه نهٔ دي نازل کړي." بيا خدای تعالی ځان له قبضه کولو او د لاس له

۱. سوره انعام: ۹۱.

پنجې پاک ګڼلے دے او فرمايلي يې دي چې: ﴿ سُبْحَانَ اللَّهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾؛ "هغه له هغه څه پاک او بالاتر دے، چې هغوی يې ورسره شريکوي."[۱]

د عربي ژبې او لغت پيژاندو د تېرو ايتونو او روايتونو په باره کښې د اهل البيت علیهم السلام ويناوې په ښه توګه اخښستې(درک کړې) دي او هغه يې له استعمال شويو موردونو سره مطابق ګڼلي دي.

راغب اصفهاني په خپل کتاب «مفردات القرآن» او د اوس مهال عالمان په «معجم الفاظ القرآن کريم» کښې وائي چې: «يد» د بدن يو اندام دے چې کله کله په نورو معنو کښې لکه هغۀ څه چې د بل کس په واک کښې دي، استعماليږي مثلا کله هم چې وويل شي چې: فلانکے څيز د هغۀ په «يد»

۱. توحيد صدوق، مخ۱۲۱، حديث اول.

(لاس) کښې دے یعني د هغهٔ د واک او اختیار لاندے دے.[۱]

دغو عالمانو او پوهانو د ید ټکي لپاره نهه (۹) مجازي معنې ذکر کړي دي چې یوه معنا یې پکې په تېرو درېو ایتونو کښې ذکر شوه او هم دا رنګ دا ایت ﴿بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ﴾ چې مراد یې دا دے چې، د وجود د عالم د ټولو چارو واک اختیار د خدا ے په لاس کښې دے او ټول موجودات په بشپړ خضوع او تواضع او خاکسارۍ سره د هغهٔ حکم تر لاندې دي. او هم دا رنګ په «بيدك الخير» جملې کښې چې وائي: ټول خېرونه او نیکیانې د خدا ے په اختیار او واک کښې دي. او د ﴿ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌ ﴾ جمله د یهودیانو په نزد یعنی د انفاق له لحاظه د لاسونو بندیدل (بخیلي) دي، خو که چرې مبسوطه استعمال شي یعني د انفاق له

---

۱. لکه مونږ په پښتو کښې هم وایو چې حکومت د فلاني په لاس کښې دے یا د قانون لاسونه ډېر اوږدهٔ دي وغېره (شاهین).

لحاظه توان من او سخي. او دا د هغه ايت په شان د ے لکه چې پکې پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله ته خطاب د ے چې فرمائي: ﴿وَلا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً﴾؛ او خپل لاسونه (د بخيل په شان) مهٔ تړه.

خو ځومره د حېرانتيا خبره ده د خلفاو د مکتب د پيروکارو طريقه، چې د يد ټکے په ﴿ وَلا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً ﴾ ايت کښې چې د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله په شان کښې نازل شو ے، په مجازي معنا تفسيرکړ ےد ے او دا يې له بخيلتوب څخه کنايه ګرځولې ده چې له خپل ماله د انفاق توان او طاقت نهٔ لري.[1]

---

۱. تفسير قرطبي، ټوک۱۰، مخ۲۵۰، د دې ايت په تفسير کښې په؛ تفسير ابن کثير، ټوک۵، مخ۲۳ کښې په هغه کښې داسې راغلي دي: دومره بخيل مه کيږه چې هيچا ته هم څه ورنهٔ کړې. لکه يهوديانو وويل چې د خدا ے لاسونه تړلي دي يعنې هغوي خدا ے بخيل وګڼهٔ.

خو بیا هم هغوي(سني عالمانو) د ید ټکې په دې ایت ﴿ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌ ﴾ کښې په حقیقي معنا یعني د بدن یو غړی او عضو په معنا تفسیر کړی دی! د خلفاو د مکتب د ځینو عالمانو، د داسې بدې پوهې او ناوړه استعمال علت څه دی؟

په جاج او څېړنې سره د ید ټکي د داسې ناسم تفسیر اصلي علت، د خلفاو په مکتب کښې د پیغمبراکرم صلی الله علیه وآله له اصحابو څخه له نقل شویو حدیثونو څخه معلومیږي.

لکه څنګه چې همدغه ډول خبرې خدای ته د «پښې» او «پنډۍ» نسبت په ورکولو ـ معاذالله ـ کښې هم تیرې شوې.

## ۳- د اهلبیتو علیهم السلام په مکتب کښې د خدای «پنډۍ» او «قدم یا پښه»

د اهلبیتو امامانو علیهم السلام د روایتونو په یوه برخه کښې له پنډۍ مراد داسې بیان کړی شوی دی: عبید بن زراره وائي: له امام جعفر صادق علیه السلام څخه مې د دې ایت ﴿ يَوۡمَ

یُکۡشَفُ عَن سَاقٍ﴾[1] په حقله پوښتنه وکړه نو امام عليه السلام په یو لاس سره د پنډۍ جامې ونیولې او بل لاس يې په سر کېښود او وې ویل: «سبحان ربی الأعلی»؛ پاک دے زما عالي رتبه خدا ے!

شیخ صدوق وائي: د امام عليه السلام د وینا مطلب چې وې فرمایل: «سبحان ربی الأعلی» دا دے چې خدا ے پاک پنډۍ نۀ لري.[2]

او همدا رنګ،محمد بن علي حلبي روایت کوي چې امام جعفر صادق عليه السلام د خدا ے پاک دې قول ﴿ یَوۡمَ یُکۡشَفُ عَن سَاقٍ﴾ په حقله وفرمایل: جبار خدا ے پاک او پاکیزه دے له دې چې د انسانانو په شان پنډۍ ولري، بیا يې خپلې پښې پنډۍ ته اشاره وکړه او لباس يې ترې اوچت کړ او دې ایت

۱. سوره قلم: ۴۲.
۲. توحید صدوق، مخ۱۵۵، حدیث سوم؛ بحارالانوار، ټوک۴، مخ۷، حدیث ۱۲.

تلاوت یې وکړ: ﴿وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ﴾؛[1] او سجدې ته رابلل کېږي؛ خو(د سجدې کولو) وس به یې نهٔ وي. او وې فرمایل: بدکاره قوم به ګډ وډ او لالهاندې شي او د هغې ورځې لوړاوې او عظمت به وربانديې داسې غالب شي چې سترګې به یې ځېږې او زړونه به یې حلق (ستوني) ته راورسیږي. ﴿خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ﴾؛[2] حال دا چې سترګې به یې (له شرمه) ښکته وي، خواری او ذلت به راګېرکړي وي او په یقین سره، (دوي هغه کستان دي) چې له دې مخکې چې روغ رمټ وو سجدې ته رابلل شوي وو.

او هم دا رنګ، حسین بن سعید له اتم امام علي رضا عليه السلام نه د دې ایت ﴿ يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ

---

۱. سوره قلم: ۴۲.
۲. سوره قلم: ۴۳.

فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴾ په اړه پوښتنه وکړه. امام علیه السلام ورته وفرمایل: یوه نوراني پرده به راښکاره شي او ټول مومنان به سجده وکړي خو د منافقانو ملا او شا، به داسې تاؤ شي چې د سجدې توان به ونهٔ لري.[۱] د کشف ساق په اړه حدیثونو جاج خدا ے پاک په قران شریف کښې فرمائي: ﴿ يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٍ﴾؛ کله چې هغه لویه او عظیمه واقعه راپیښه شي». «کشف ساق» په عربۍ ژبه کښې د یو څیز په سخت والي او د پیښې په عظمت او لوے والي دلالت کوي.

په یو روایت کښې راغلي دي چې له ابن عباسه د دې ایت په حقله پوښتنه وشوه ﴿ يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٍ﴾ هغه وویل چې: کله هم چې د قرآن شریف په یو آیت یا ټکي نهٔ پوهیږئ نو هغه په شعر کښې ولټوئ چې هغه د عربو دیوان (لغت او ژبه) دے. مګر د دې شاعر دا وینا مو نهٔ ده اوریدلې چې

۱. عیون اخبار الرضا؛ تفسیر نور الثقلین، ټوک۵، مخ۳۹۵.

وائي: «و قامت الحرب بنا على ساق»؛ او زمونږ جنګ سخت شو یعني اخیري حد ته ورسید. ابن عباس له دې وروسته وویل چې د ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ﴾ معنا دا ده چې: د قیامت په ورځ به چارې سختې او پېښه به ډېره لویه راپېښېږي.[1]

لوی او پوه لغت پېژاندي ښاغلي راغب اصفهاني، په خپل کتاب مفردات القرآن کښې دا ایت، د ابن عباس او د هغهٔ د پیروکارو په شان تفسیر کړی دی.[2]

همدارنګ د مصر یو اوسنې عالم او دانشور، په خپل کتاب معجم الفاظ قران الکریم کښې وائي: «کشف ساق» د پېښې له سخت والي او شدت څخه کنایه ده.[3]

---

۱. تفسیر قرطبی، ټوک۷، مخ۲۵۴.
۲. مفردات راغب، د سوق لفظ.
۳. معجم الفاظ القرآن الکریم، د سوق لفظ.

نو، د دې ایت په اړه د لغت پیژاندو او مفسرانو د اقوالو او نظریاتو له څیړلو نه پس، ـ د صحابه و له زمانې نه تر اوس مهاله پورې روښانیږي چې د کشف ساق معنا حقیقي نهٔ ده بلکې مجازي او کنائي ده او که ووایو چې جنګ ولاړ دے نو معنا یې دا نهٔ ده چې هغه هم د انسان په شان لاس او پښې لري او اوس په پښتو ولاړ دے، خو د دې فائده څه ده چې د مشهورې او مقبولې معنې په خلاف د ابو هریره او د نورو صحابه و روایتونه راغلي دي؟ او وائي چې پېغمبراکرم‌صلی‌الله‌علیه‌وآله د دې ایت ﴿ يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٍ﴾ تفسیر داسې کړے دے چې: «خدا ے پاک به خپله پَنډۍ راښکاره کړي او مومنان به ورته سجده کوي!»

نو له دې تفسیره، د خلفاو د مکتب ځینو کسانو دا ګومان کړے دے چې ـ نعوذ بالله ـ خدا ے پاک هم پښه او پَنډۍ لري.

## ۴- د اهلبیتو علیهم السلام په روایتونوکښې د «عرش» او «کرسۍ» تفسیر

زراره وائي: له امام جعفر صادق علیه السلام مې پوښتنه وکړه چې خدا ے فرمايلي دي چې: ﴿ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ د هغۀ کرسۍ، په آسمانونو او زمکه باندې خوره ده، آیا آسمان او زمکې (خپل ځان کښې) کرسۍ راګېره کړې ده یا کرسۍ اسمان او زمکه راګېر کړي دي؟ وې فرمایل: کرسۍ نۀ یوازې دا چې اسمانونه او زمکه یې راګیر کړي بلکې عرش او هر څه په کرسۍ کښې موجود دي.[1]

او داود رقي وائي: له حضرت امام جعفر صادق علیه السلام څخه مې د دې ایت په اړه ﴿وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ ﴾ پوښتنه وکړه وې فرمایل: چې نور کسان په دې اړه څه وائي. عرض مې وکړ: نور وائي: چې عرش په اوبو ولاړ دے او

۱. توحید صدوق، مخ۳۲۷، حدیثونه ۴ او ۵.

خدای په عرش. وې فرمایل: دروغ ویل شوي دي. که څوک هم دا ګومان وکړي نو هغهٔ خدای یو داسې څیز فرض کړ چې هغه وړلی شي د ګرځولو او وړلو شي او خدای پاک ته یې د مخلوقاتو د صفت نسبت ورکړ او د داسې نظریې لازمه او پایله دا ده چې هغه څیز چې خدای وړي راوړي له خدای څخه مضبوط او طاقتور دی؛ (حال دا چې خدای له ټولو طاقتور دی.[1]

اباصلت، عبدالسلام بن صالح هروي وائي: د عباسیانو خلیفه مأمون له امام رضا علیه السلام څخه د دې ایت تفسیر وپوښتهٔ ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾؛[2] او هغه (خدای)، هغه ذات دی چې اسمانونه او زمکه یې په شپږو ورځو (وختونو یا دورانونو) کښې پیدا

۱. هماغه، مخ۳۱۹، حدیث ۱.
۲. سوره هود: ۷.

کړل او د هغهٔ عرش په اوبو ؤ [۱] د دې لپاره چې تاسو وآزمائي چې کوم یو پکې په عمل کښې له ټولو ښهٔ دے. نو امامؑ ورته ځواب ورکړ: خدای تعالیٰ، عرش، اوبهٔ او فرښتې د اسمان او زمکې له خلقته وړاندې پنځولې وو. [۲]

## د دواړو مکتبونو د روایتونو جاجونه او موازنه

وړومبے: د خلفاو په مکتب کښې د عرش او کرسي معنا:

د خدای عرش لفظ په قران شریف کې شل ځله او د کرسي لفظ یوازې یو ځل راغلے دے لکه: ﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ﴾؛ "رحمان خدای په عرش احاطه لري." او یا دا

۱. د عرش معنا تخت او د حکومت او قدرت ځای دے ویلې شوې دې چې د خدای عرش په ټول جهان دے ځکه چې په ټولو جهانونو د هغه حکومت دے.
۲. توحید صدوق، مخ۳۱۹، حدیث ۲.

چې: ﴿ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ ﴾؛ "د هغهٔ کرسۍ په آسمانونو او زمکه خوره ده."

د خلفاو د مکتب ځینې عالمانو لکه ابن خزیمه او هم داسې نورو «عرش» او «کرسي» مادي جسمونه فرض کړي دي چې ـ نعوذ بالله ـ خدا ے پاک په هغه کښیني، د خپلې دې عقیدې لپاره یې د قران پاک په اووه (۷) ایتونو سره، چې پکښې د «عرش» او «استویٰ» ټکي راغلي دي، استدلال کړے دے. لکه د دې ایت د معنا په اړه یې دا ګومان کړے دے ﴿ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ ﴾ چې د خدا ے کرسۍ او تخت دومره غټ او لوے دے چې پکښې اسمانونه او ځمکې ځاییږي.

مونږ په خپل بحث او تحقیق کښې داسې پوهـ شو چې د خلفاو په مکتب کښې د داسې فکرونو او عقیدو اصلي علت لاندیني موردونو ته ګرځي:

۱- له پېغمبراکرم ﷺ څخه د داسې روايتونو موجودګي چې هغه په دې دلالت کوي چې د خدا ے عرش د موجوداتو له خلقت نه وړاندې، په اوبو باندې ؤ.

۲- له پېغمبراکرم ﷺ سره منسوب روايت چې وائي: زمکه چې د وړومبي اسمان لاندې ده او وړومبے اسمان د دويم اسمان لاندے دے تر اووو(۷) اسمانونو پورې رسي او د اوم اسمان د پاسه يو ستر درياب دے چې په هغۀ باندې اوۀ غرونه دي او په دغو اوو(۷) غرونو د خدا ے عرش دے او خدا ے پاک په عرش باندې دے.

۳- له پېغمبراکرم ﷺ سره منسوب بل روايت چې وايي: د خدا ے عرش په اسمانونو باندې دے او خدا ے په اسمانونو او عرش باندې دے او هغه (عرش او اسمانونه) د خدا ے د درووند والي په وجه د اوښ په شان نړيږي او فريادونه او چغې کوي (کله چې اوښ د بار د دروندوالي لامله داسې کوي).

۴- روايت شوے دےچې خدا ے تعالیٰ په کرسۍ ناست دے او څلور واړه خوا ته د هغه بدن له عرشه څلور ګوتې ستر او لوے دے وغيره....

اوس بايد د دې روايتونو له راويانو پوښتنه وشي چې:

۱- آيا کوم خدا ے چې په دې روايت کښې څلورو طرفونو ته له عرشه ستر دے. نعوذ بالله. څلور مخونه لري او څلور ګوته لري يا دا چې ايا عرش څلور ګوتيز دے ؟

۲- آيا دا چې په روايت کښې راغلي دي چې خدا ے هر خوا ته له کرسۍ نه څلور ګوتې لوے دے ايا دا د انسانانو ګوتې دي يا د بل چا ګوتې دي؟ په رښتيا چې خدا ے د جاهلانو له ګومانونو ډير برتر دے.

۳- د خلفاو د مکتب په ټولو روايتونو کښې راغلي دي چې عرش له اوم اسمانه پاس دے او اوم اسمان له شپږم اسمانه پاس دے وغيره..... وړومبے اسمان د زمکې پاسه دے او د دې ټولو له پاسه عرش دے او عرش د خدا ے ځاے ده (نعوذ بالله). دا ټول روايتونه د فلکياتو او جهان شناسي له

علومو سره مطابقت لري علم فلکيات جهان اوۀ يا اتۀ طبقه ګڼي ځمکه لاندينې طبقه او اسمانونه وربانديګڼي.

البته په اوو اسمانونو عقيده، توحيدي عقيده ده، خو د علم فلکيات پخوانيو پوهانو له دې نظريې مادي او خپل ذهن په مطابق تصوير راخېستے او وړاندې کړې يې دے خو څه چې د جهان شناسۍ په نننی علم کښې ثابت شوي دي، او د شمسي منظومې ټولې سيارې چې له نمر نه ګيرچاپېر تاوېږي له ګروړونو منظومو څخه څو منظومې بلې چې دا يوازې د عالم وجود يوه کهکشان ده، ايا د داسې روايتونو د تفسير لپاره کومه لاره شته؟

هو، د خلفاو د مکتب له نظره په ايتونو او روايتونو کښې دا، د «عرش» او «کرسۍ» معنا وه.

دويم: د اهلبېتو عليهم السلام په مکتب کښې د «عرش» او «کرسۍ» معنا:

کوم روايتونه مو چې وړاندې ذکر کړل د هغو له مخې د خلفاؤ د مکتب ځينې عالمان دې ته جوړ شوي دي چې د

خدا ے پاک «عرش» او «کرسیۍ» چې په قران کښې راغلي دي دوه مادي څیزونه وګڼي.

خو اهلبېتو امامانو علیهم السلام دا نظریه تاییده کړې نۀ ده او فرمایلي یې دي: د دې ایت معنا ﴿ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ﴾ [۱] دا ده چې خدا ے پاک اوبۀ د اسمان او د زمکې له پېدا ایښته مخکې خلق کړې دي. او له کرسیۍ نه مراد د خدا ے علم دے. نو ځکه: ﴿ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾[۲] یعنې: د خدا ے علم په آسمانونو اوزمکه خور دے.

خو د «عرش» او «استوی» او «کرسیۍ» معنا په لغت کښې داسې ده چې وروسته راځي:

۱. سوره هود: ۷.
۲. سوره بقره: ۲۵۵.

۱- عرش: عرش په اصل کښې بام لرونکي ځای ته وائي چې د هغه جمع عروش ده لکه فرمايلي يې دي: ﴿ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا﴾؛[1] او د هغو چتونه او بامونه غورزېدلي وو. او همدا رنګ «عرشت الكرم و عرشته» يعنې: په باغ او د انګورو په ونې مو چت (بام) جوړ کړ. د بادشاه تخت او د هغه د کښيناستو ځای ته هم وائي، د هغه مقام ته هم عرش سلطنت ويلې شي چې دا د عزت او د هيواد له چلولو څخه کنايه ده.

۲- استوىٰ: په قرآن کريم کښې شپږ ځله د «استوى على العرش» جمله او يو ځل هم د ﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ﴾ جمله راغلې ده.

راغب اصفهانی هم په مفردات قرآن کښې وائي: «استوى» کله هم «علىٰ» لفظ سره راشي نو متعدى کيږي،

---

۱. سوره بقره: ۲۵۹.

نو «استیلا» په معنې راځي، لکه: ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ﴾؛ رحمان خدا ے په عرش غالب او مسلط د ے.

او ویلې شوي دي چې: د استویٰ معنا یعنې ﴿ٱسۡتَوَىٰ ۝ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ یعنې: هغه څه چې په اسمان او زمکه کښې دي د خدا ے پاک په خوښې او ارادې سره تنظیم او برابر شوي دي. لکه فرمایلي یې دي چې ﴿ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٍ﴾؛ بیا یې آسمان [پېدا ایښت] ته مخه کړه او اوه آسمانونه یې برابر کړل.

د عربو په اشعاروکښې «استویٰ» د غالب او مسلطېدو په معنا هم راغلې ده لکه شاعر د عراق والي بشر بن مروان په ستائلو کښې داسې وائي:

قَد اسْتَوى بِشْرٌ عَلَى العِراقِ

مِن غَيرِ سَيْفٍ أو دَمٍ مِهراقِ

«بِشر» بې له تورې او وينې بيونې په عراق غالب، مسلط او واکمن شو.[۱]

۳- کرسي: «کرسي» د «علم» په معنا ده په همدې خاطر لنډو علمي ليکونو او پمفلټ ته، «کراسة» او ليکوالانو ته يې «کراسی» ويل کيږي لکه چې شاعر وائي:

يَحُفُّ بِهِم بَيْضُ الوُجوهِ وَ عُصبَةٌ
كَراسيُّ بالأَحداثِ حينَ تَنُوبُ

يعنی: هغو خواو شا ته د نوراني څيرو کسانو، چې د چارو په علم يې پوهه لرله، احاطه کړې وه. دلته له «کراسی بالأحداث» مراد يعنی د چارو او د پيښنو علم لرونکي.

او همدا رنګ، په عربي ژبه کښې د هر څه اصل او ريښې ته «کرس» ويلې شي. لکه ويلي شوي دي چې: «فلان کريم

۱. بشر بن مروان د اموي خليفه عبدالملك مروان ورور او په ۷۴ هجری کال کښې په عراق کښې د هغهٔ والي ؤ او په بصرې کښې په حق ورسيد.

الکرس» يعنی «کريم الأصل» يعني په اصل کې کريم او مهربان د ے يعني له شريفې کورنۍ څخه د ے.[۱]

پس، دا چې په دې ايت کښې فرمايلې شوي دي چې: ﴿ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ ﴾ يعنې: «وسع علمه السموات و الأرض؛ د هغه علم پر اسمانونو او ځمکې خپور دی.»

او دا معنا په نورو ډيرو ايتونو کښې هم راغلې ده. لکه په سورۀ انعام کښې د ابراهيم عليه السلام له قوله فرمائي: ﴿ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًا﴾؛ زما د پروردګار علم، په ټولو څيزونو خور د ے.[۲]

۱. تفسير طبری، ټوک۳، مخ۸؛ اساس البلاغة، مخ۳۹۰، د کَرَسَ لفظ.

۲. سوره انعام: ۸۰.

او د شعیب له قوله داسې فرمائي: ﴿ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًا﴾؛ زمونږ د پروردګار علم، په هر څه خور دی.[۱]

او د عرش د (وړونکو) حمل کوونکو فرښتو له قوله فرمائي: ﴿رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا﴾؛ "ای زمونږ ربه! ستا رحمت او ستا علم په ټولو څیزونو خپور دے."[۲]

او د موسیٰ له قوله چې خپل قوم ته فرمائي: ﴿ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا﴾؛ بې شکه چې ستاسو خدا ے یوازې الله دے چې له هغه بغېر بل خدا ے نشته چې د هغهٔ علم په هر څه محیط او خپور دے.[۳]

۱. سوره اعراف: ۸۹.
۲. سوره غافر: ۷.
۳. سوره طه: ۹۸.

د دوو مکتبونو د پیروکارو ترمېنځ له موجود تودو او ګرمو بحثونو څخه یو بحث، دا اصطلاحات او د هغو تفسیر او معنې دي،. خو د خوند ټکے دا دے چې «إله» لفظ د مکتب خلفا عالمانو په ذهن کښې داسې منعکس شوے دے چې کله په یو خاص ځا ے عرش ناست وي او بیا له «عرشه» زمکې ته راکوزیږي، او له جنته، جهنم ته منتقلیږي او خپله پښه په دوزخ کښې ږدي چې هغه موړ او ډک کړي!

## ۵- خدا ے پاک ته د مکان او حرکت او منتقل کېدو نسبت ورکول

علی بن الحسین بن علی بن فضاله له خپل پلاره روایت کړے دے چې وې ویل: له امام رضا علیه السلام مو د دې ایت په باره پوښته وکړه: وَجَآءَ ﴿ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾.[۱] وې فرمایل: «پاک او لوے دے خدا ے پاک له دې چې هغهٔ ته د

۱. سوره فجر: ۲۲.

تللو او راتللو او ځا ے په ځا ے کېدو نسبت ورکړو، بلکې له تعبیرونو مراد د خدا ے «امر» د ے.»[۱]

او هم دا رنګ،ابراهیم بن ابی‌محمود وائي چې: امام رضا ﷺ ته مو عرض وکړ: ا ے د پېغمبر ﷺ نمسیه! دې حدیث په اړه، چې له رسول اللّه ﷺ یې داسې نقل کړ ے د ے ستاسو نظر څه د ے؟ وائي هغه حضرت(پیغمبرﷺ) فرمایلي دي چې: «خدا ے پاک هره شپه د دنیا اسمان ته راکوزیږي.»

امام وفرمایل: «د خدا ے لعنت دې وي په هغو کسانو چې خبره له خپل ځایه (مراده) کږَوِي او منحرفه کوي یې. قسم په خدا ے چې پېغمبراکرمﷺ داسې نهٔ دي فرمایلي بلکې هغه حضرت داسې فرمایلي دي چې: «خدا ے پاک هره شپه، د شپې په وروستۍ دریمه برخه کښې او د جُمعې په شپه، د شپې په وړومبي پار کښې، یوه فرښته د دنیا اسمان

۱. تفسیر نور الثقلین، ټوک۵، مخ۵۷۴، حدیث ۲۰، له عیون اخبار الرضا کتابه په نقل سره.

ته رالیږي او هغهٔ ته حکم ورکوي چې غږ وکړه: ایا څوک سوال کوونکی شته چې زهٔ ورته عطا کړم؟ ایا څوک توبه کوونکی شته چې ګناهونه یې وبخښم؟ ایا څوک استغفار کوونکی شته چې مغفرت ورته وکړم؟ اے خیر لټوونکیه بیره وکړه! اے د شر غوښتونکیه (لاس ونیسه) صبر وکړه! هغه فرښته پرله پسې ټوله شپه، داسې غږونه کوي ان تر دې چې سحر راورسیږي او د سهار په رارسیدو سره هغه خپل ځای، ملکوت اسمان ته بیرته راګرځي. دا حدیث زما پلار، زما له نیکهٔ رسول الله صلی الله علیه وآله داسې نقل کړے ؤ.»[1]

او همدا راز، یونس بن عبدالرحمن وائي چې: اوم امام حضرت موسیٰ بن جعفر علیه السلام ته مو عرض وکړ: خدای څه لپاره خپل پیغمبر «آسمان» ته بوتلهٔ او له هغه ځایه یې «سدرة المنتهیٰ» ته او له هغه ځایه یې «حجب النور» او بیا یې هلته هغهٔ سره نجوا او خبرې شروع کړې؟ مګر خدای لپاره ځای او مکان څه معنا نهٔ لري؟

---

۱. توحید صدوق، مخ۱۷۲، حدیث ۷.

امام‌علیه‌السلام وفرمایل: «خدا ے پاک لپاره نۀ څه مکان تصور کېدې شي او نۀ په هغۀ زمان(وخت) تیرېږي (ځکه چې هغه جسم نۀ لري) بلکې هغه پاک ذات دا اراده وکړه چې په دې وسیله فرښتې او د اسمان اوسیدونکو ته شرافت او کرامت وروبخښي، او د خلقت او خالق عجائب هغه ته وروښئي چې کله بېرته راستون شي نو خلقو ته یې بیان کړي، خو لکه څرنګه تشبیه کوونکي وائي هغسې نۀ ده، خدا ے له ټولو شریکانو پاک او پاکیزه دے.»[1]

هم دا رنګ زېد بن علی وائي: خپل پلار څلورم امام زین العابدین‌علیه‌السلام ته مې وویل: ګرانه پلاره! د ګران نیکۀ حضرت محمد صلی‌الله‌علیه‌وآله په حقله مې خبر کړه؛ کله چې هغه حضرت، اسمان ته بوتلل شو او خدا ے پاک د هغۀ امت لپاره پنځوس نمونځونه مقرر کړل نو هغۀ خپل امت لپاره څرنګه تخفیف او رعایت ونۀ غوښتۀ تر دې چې موسیٰ بن عمران هغۀ ته وویل: چې خدا ے ته بېرته ستون شه او لږ تخفیف او

1. توحید صدوق، مخ۱۷۵، حدیث ۲.

رعایت وغواړه ځکه چې ستا امت د دومره نمونځونو طاقت نهٔ لري.

پلار مې وفرمایل: «بچیه! رسول الله صلی الله علیه وآله هیڅ کله هم په خدا ے وړومبي توب نهٔ کوهٔ او د خدا ے په حکم کښې یې چون چرا نهٔ کوله خو چونکه موسی له رسول الله صلی الله علیه وآله څخه داسې خواست وکړ نو ځکه د خپل امت شفیع وګرځېد ، د خپل ورور موسیٰ شفاعت ردول یې مناسب ونهٔ ګڼل، نو د خدا ے درګاه ته ستون شو او د نمنځونو د لږولو او تخفیف خواست یې ترې وکړ چې له پنځوسو نمونځو یوازې پینځه نمونځونه پاتې شول.»

زېد وائي ومې ویل چې: ګرانه پلاره! د پینځو نمونځونو له مقررېدو نه پس ولې خدا ے پاک ته ستون نهٔ شو چې نور هم تخفیف وغواړي؟

وې فرمایل: «پېغمبر داسې خوښه وه چې امت ته یې هم تخفیف ورسي او هم د «پنځوسو نمونځونو» جزا او ثواب، ځکه چې خدا ے فرمایلي دي چې: ﴿ مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ

عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ ؛ چا چې یوه نیکي وکړه هغوي ته به د لسو نیکیانو برابر ثواب ورکوم. پلار مې وویل چې ایا تاته پته نیشته چې کله پیغمبراکرم ﷺ زمکې ته راکوز شو نو جبرائیل امین ورباندې نازل شو او وې ویل: اے محمده! الله په تاسو سلام وائي او فرمائي: «دا پینځه نمونځونه د پنځوسو نمونځونو په ځاے دي.» ﴿مَا يُبَدَّلُ ٱلْقَوْلُ لَدَيَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ﴾؛ زما خبره نۀ بدلیږي او زۀ هیڅ کله په خپلو بندګانو ظلم او زیاتے نۀ کوم.»

وائي ومې ویل: ګرانه پلاره! خداے خو څه صفت سره نۀ شې ستائلې؟ وې فرمایل: هو، خداے له دې لوے دے چې د هغه توصیف او ستائېنه وشي: نو ومې ویل: نو بیا ولې موسیٰؑ، رسول د خداے ﷺ ته وویل چې: «دخداے درګاه ته ستون شه؟ د دې وېنا مطلب څۀ دے؟ وې فرمایل: «د دې وینا معنا بالکل هغه معنا ده چې کومه معنا په قران کې د ابراهیم د دغې وینا مراد دا دے چې وې ویل: ﴿ إِنِّي

ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴾؛ زهٔ خپل پروردګاه ته ستنیږم چې هدایت مې کړي. او همدا رنګ په قران کښې په خپله د موسیٰ
د وېنا په معنا دي چې وې ویل: ﴿ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ﴾؛ اے پروردګاره! ستا طرف ته په تیزۍ سره راغلم چې تهٔ رانه راضي شې. او په قران کښې په خپله د خدا ے پاک د کلام په معنا راغلي دي چې فرمائي:﴿ فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ ﴾؛ خدا ے لوري ته وروځغلئ. یعنی: د خدا ے کور د زیارت اراده وکړئ. بچیه! کعبه د خدا ے کور د ے او څوک چې د خدا ے کور ته د تلو اراده وکړي نو داسې دي لکه چې هغهٔ د خدا ے طرف ته د تلو اراده کړې وي. او جوماتونه هم د خدا ے کورونه دي او څوک هم چې د جومات په لورې ځي نو یقینا د خدا ے اراده یې کړې ده او نمونځ کوونکے چې تر څو په نمانځهٔ ولاړ وي نو له خدا ے سره مخامخ ولاړ وي. او په اسمانونو کښې د خدا ے پاک ځینې ځایونه دي چې هر څوک هلته بوځي نو هغه د خدا ے طرف ته بوتلې شوې وي.

مګر د خدا ے تعالیٰ دا وېنا دې نۀ ده اورېدلې چې فرمائي: ﴿تَعۡرُجُ ٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيۡهِ﴾؛ فرښتې او روح الامین د هغۀ په لور پاس ځي. او هم دا رنګ، فرمائي: ﴿إِلَيۡهِ يَصۡعَدُ ٱلۡكَلِمُ ٱلطَّيِّبُ وَٱلۡعَمَلُ ٱلصَّـٰلِحُ يَرۡفَعُهُۥ﴾؛ پاکیزه خبرې هغه طرف ته پاس ځي او (دا) نېک عمل يې پاس وړي.[1]

## د خدا ے لپاره د مکان لرلو شبهې ته عمومي او کلي ځواب

ابو بصیر وائي چې: حضرت امام جعفر صادق وفرمایل: خدا ے پاک، زمان (وخت) او مکان او حرکت او انتقال او سکون (ولاړېدل) سره نۀ شي ستائلی بلکې هغه پخپله د زمان او مکان او حرکت او سکون خالق دے، په رښتیا چې

۱. توحید صدوق، مخونه ۱۷۲ـ۱۷۷، حدیث ۸.

هغه پاک ذات له ستائلو هم لوړ دی. «الله اَکبرُ مِن اَن یُوصَف».[۱]

د دغو روایتونو جاج او موازنه

د مکتب خلفا پیروکارو ـ په تېره بیا سَلَفیانو یعني وهابیانو ـ په تېرو روایتونو باندې د اعتماد او باور له وجې چې د هغو له کتابونو مو ذکر کړ، داسې ګومان کړے دے چې خدای پاک مادي جسم لري ـ نعوذ بالله ـ او په عرش او کرسۍ ناست دے لکه څرنګه یې دا ګومان هم کړے دے چې له یو ځایه بل ځای ته ځي او منتقلیږي په تیره بیا د ابوهریره په روایتونو باندې د باور په وجه دا ګومان کوي چې د شپې د لږ وخت له تېریدو نه پس یا د شپې په دریمې برخې کښې خدای پاک له عرشه وړومبي اسمان ته راکوزیږي او خپل لاسونه پراخوي او خپلو بندګانو ته خطاب کوي او... یا دا چې د عرفې په ورځ (د لوی اختر په شپه) راکوزیږي وغیره....

۱. هماغه، مخونه ۱۸۳ـ۱۸۴، حدیث ۲۰.

خو د اهل سنتو ځینې عالمانو لکه ابن خزیمه، د ابوهریره په دې روایت چې وائي: «د نمانځهٔ فرښتې نمونځ کوونکي خدا ے طرف ته پاس ورولي» استدلال کړے چې خدا ے تعالیٰ په اسمان کښې خپل مخصوص ځا ے لري.

همدارنګ د ابوهریره دا روایتونه د دې سبب شوي دي چې د خلفاو د مکتب پوهان او عالمان د قران پاک عبارتونو، لکه: ﴿ وَجَآءَ رَبُّكَ ﴾ و ﴿يَأۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ ﴾ وغیره...، داسې تفسیر وکړي چې ګنې خدا ے تعالیٰ تګ راتګ هم کوي!.

خو د اهلبېتو علیهم السلام په مکتب کښې مو ولیدل چې حضرت امام رضا علیه السلام دا ایت ﴿ وَجَآءَ رَبُّكَ ﴾ داسې تفسیر بیان کړ چې «و جاء امر ربك» یعنی ستا د خدا ے امر او حکم راغے.

او هم دا رنګ مو ولیدل چې د دنیا اسمان ته د خدا ے راتلو حدیث یې دروغ وبلهٔ، او هغه حدیث یې تحریف شوے وګڼهٔ.

او دا مو هم ولوستل چې کله راوي له اوم امام علیه السلام نه پوښتنه کوي چې: که چرې خدا ے پاک مکان نهٔ لري نو ولې

یې خپل پېغمبرﷺ «سدرة المنتهیٰ» ته پاس وخیژوۀ؟ نو امام ورته داسې ځواب ورکوي چې: «خدا ے پاک خپل پیغمبرﷺ اسمان ته وخېژوۀ چې خپل رسولﷺ په مبارکې هستۍ سره فرښتو ته شرافت او کرامت وروبخښي او همدا رنګ پېغمبراکرمﷺ هم د خدا ے تعالیٰ د خلقت او خالق عظمت او عجائب ووینې او هغه د زمکې اوسیدونکو ته بیان کړي.»

او امام زین العابدینعلیه السلام هم د خپل زوے زید د دې پوښتنې په ځواب کښې چې: پېغمبراکرمﷺ ته د موسی د دې وېنا مطلب څه ؤ چې وې ویل: «خدا ے ته بېرته ستون شه او د کمولو (تخفیف) غوښتنه ترې وکړه؟» امام وفرمایل چې: دا وېنا د موسیٰ د دې وېنا په شان ده چې خدا ے پاک سره په مناجاتو کښې یې وویل چې: ستا لوري ته په بیړې سره راغلم چې تۀ خوشحاله او راضي شې» او دا چې، کعبه د خدا ے کور دے، او جوماتونه هم د خدا ے کورونه دي او څوک هم چې جومات ته د تللو اراده وکړي، د هغه کس په څېر دي چې خدا ے پاک لوري ته یې د تللو اراده کړې وي.

همداسې دے د عرفې په ورځ د نمونځ کوونکي او دعا کوونکي حالت چې تر څو د نمانځهٔ په حالت کښې وي نو داسې دي لکه خدا ے پاک ته مخامخ ولاړ وي.»

او امام جعفر صادقؑ په يو کلي او عمومي بيان سره داسې فرمائي: «خدا ے پاک په زمان (وخت) او مکان او حرکت او سکون (اودرېدلو) سره نهٔ شي ستائېل کېدې بلکې هغه پخپله د زمان او مکان او حرکت او سکون خالق دے، په رښتيا چې هغه پاک ذات له ستائلو هم بالاتر دے. «اللهُ اَکبرُ مِن اَن يُوصَفَ».»

## ۲- رؤيت خدا (د خدا ے ليدل) د اهلبيتوؑ د روايتونو په رڼا کښې

ابو الحسن موصلی له امام جعفر صادقؑ څخه روايت نقلوي چې وې فرمايل: «يو يهودي عالم اميرالمؤمنين عليؑ ته راغے او پوښتنه يې وکړه: اے اميرا لمؤمنينه! آيا د عبادت په حالت کښې دې خپل خدا ے ليدلے دے؟ وې فرمايل: «افسوس دې وي په تا! زهٔ د داسې پروردګار

عبادت نۀ کوم چې هغه مې نۀ وي ليدلے.» يهودي وپوښتل: هغه دې څرنګه ولیدۀ؟ وې فرمايل: «افسوس دې په تا وي! هغه سترګو سره نه شي ليدل کېدې؛ بلکې زړونه د ایمان په حقيقت سره هغه ويني.»[1]

صفوان بن يحيىٰ وائي: د اهل سنتو محدث ابوقره له ما وغوښتل چې ما د امام رضا علیه السلام خدمت ته ورولې. نو ما امام نه اجازه واخېسته او امام هم ومنله چې را دې شي کله چې ابوقره امام علیه السلام ته ورغے سلام نه پس یې د حلالو او حرامو او شرعي حکمونو په اړه پوښتنې پېل کړې تر دې چې توحيد ته ورسيد او وې ويل: «زمونږ په مکتب کښې دا حديث دے چې خدا ے تعالیٰ خپل «رؤيت» او «کلام» په دوو کسانو وويشل. خپل کلام او خبرې کول يې موسیٰ ته وبخښل او خپل رؤيت او ليدل يې محمد صلی الله علیه وآله ته وبخښل.» تۀ په دې اړه څه نظر لرې؟ نو امام رضا علیه السلام ورته وفرمايل: «نو بيا انسانانو او پېريانوته دا خبر چا راوړه

---

۱. توحيد صدوق، مخ۱۰۹، حديث ۲.

چې: ﴿لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَ﴾؛[1] سترګې هغه نه شي لیدې خو هغه سترګېویني؟ ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا﴾؛[2] د هغوي علم، په هغۀ احاطه نۀ لري؟ او: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ﴾؛[3] هېڅ څيز د هغه غوندې نۀ دے؟ آیا دا خبر خلقو ته حضرت محمد ﷺ نۀ وه راوړې؟ ابوقره وویل: ولې نه حضرت محمد ﷺ ؤ. نو امام وفرمایل: «نو بیا دا څرنګه ممکنه ده چې یو سړے خلقو ته راشي او ورته ووائي چې زۀ خدا ے رالیږلې یم او خلق د خدا ے حکم ته راوبولي او ووائي چې: ﴿لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَ﴾ و ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمٗا﴾ و ﴿ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ

---

۱. سوره انعام: **۱۰۳**.
۲. سوره طه: ۱۱۰.
۳. سوره شوری: ۱۱.

شَيۡءٞ﴾ او بیا ووائي چې ما هغه په خپلو سترګو سره لیدلے دے او خپل په علم سره مې ومونده چې هغه د انسان په څېر دے.» آیا شرم نۀ لرئ؟ له دین سره جنګ کوونکو زندیقانو هم، هغه ذات ته داسې نسبت نۀ دے ورکړے چې یو څه د خدا ے لخوا راوړي او بیا د هغه په خلاف ووائي.؟»

ابوقره وویل: خدا ے په خپله فرمایلي دي چې: ﴿وَلَقَدۡ رَءَاهُ نَزۡلَةً أُخۡرَىٰ﴾؛[1] او په یقین [پیغمبر]، هغه په دویم ځل ولیدۀ. امام علیه السلام وفرمایل: ورپسې بل ایت په خپله وائي چې څه یې ولیدل. داسې فرمائي: ﴿مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ﴾؛[2] څه چې (د پیغمبر پاک صلی الله علیه وآله) زړۀ ولیدل، ترې منکر نۀ شو،

---

۱. سوره نجم: ۱۳.
۲. سوره نجم: ۱۱.

﴿لَقَدۡ رَأَىٰ مِنۡ ءَايَٰتِ رَبِّهِ ٱلۡكُبۡرَىٰٓ﴾؛[۱] "په يقين، د خپل رب (ځینې) ستري نښې نښانې يې وليدلې." او دا خبره روښانه ده چې خدا ے او د خدا ے نښې نښانې يو شيز نۀ دے. او خدا ے پاک فرمايلي چې: ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمًا﴾؛[۲] د هغوي علم په هغۀ احاطه نۀ لري خو که د هغۀ سترګې وويني نو دا خو يې ورباندې علمي احاطه ولرله او د هغۀ شناخت يې تر لاسه کړ.

ابوقره امام ته وويل چې: «تۀ دا روايتونه دروغ بولې؟» امام عليه السلام ورته وفرمايل: که حديثونه د قران شريف مخالف وي هو زه هغه دروغ ګڼم. خو په کوم څه چې ټول مسلمانان اجماع او د نظر اتفاق لري دا دي چې علمي احاطه په

۱. سوره نجم: ۱۸.
۲. سوره طه: ۱۱۰.

خدا ے ممکنه نه ده سترګې هغه نهٔ شي لیدلې او هېڅ څیز د هغه غوندې نهٔ د ے.»[۱]

دلته دوه ډوله رؤیت (لیدل) د بحث وړ د ے:

۱- په دنیاوي ژوند کښې د پېغمبراکرم صلی الله علیه وآله «رؤیت»؛

۲- د قیامت په ورځ د مسلمانانو «رؤیت».

د پېغمبر د «رؤیت» په اړه د خلفاو د مکتب روایتونه مختلف دي: د کعب الاحبار په روایت کښې وائي چې: «خدا ے تعالیٰ خپل «رؤیت» او «کلام» په دوو کسانو وویشل. خپل کلام او خبرې کول یې موسیٰ ته وبخښل او خپل رؤیت او لیدل یې محمد صلی الله علیه وآله ته وبخښل. د قیامت په اړه د مسلمانانو د رؤیت او لیدلو په حقله هم، مونږ یوازې د ابوهریره روایت ذکر کړ چې وې ویل: «تاسو به د قیامت په ورځ خدا ے داسې وینئ لکه څرنګه چې په دنیا کښې نمر او

۱. توحید صدوق، مخونه ۱۱۰ـ۱۱۲، حدیث ۹؛ بحارالانوار، ټوک۴، مخ۳۱، حدیث ۴؛ اصول کافی، کتاب التوحید، باب ابطال الرؤیة، حدیث ۲.

سپوږمۍ صفا وينئ په هغه ورځ به هر يو کس خپل معبود پسې ځي ان تر دې چې په دوزخ کښې به له هغوي سره محشور شي او يوازې د خدای عبادت کوونکي مع هغه نېکوکاره وي او که بدکاره به پاتې شي. نو خدای پاک به په هغه شکل کښې چې هغه يې ليدلی نۀ ؤ هغوي ته ورشي او هغوي ته به ووېل شي چې د څه انتظار کوئ؟ وائي به: مونږ د خپل پروردګار چې په دنيا کښې مو د هغۀ عبادت کوۀ په انتظارکښې يوو. خدای پاک به ورته وفرمائي: زۀ ستاسو پروردګار يم هغوي به دوه يا درې ځل ووائي چې مونږ له خدای سره څه بل څه شريک نه ګڼو. نو خدای به په هماغه وړومبي شکل کښې راشي کوم شکل چې د دوي په ذهن کښې ؤ او به وائي چې زۀ ستاسو پروردګار يم هغوي به ووائي: هو! تۀ زمونږ پروردګار يې. نو هغۀ پسې به روان شي او جنت ته به داخل شي.»

او د دې روايت په آخر کښې راغلي دي چې: «يو کس به په محشر کښې بيل پاتې شي حال دا چې مخ به يې جهنم ته کړې وي او خدای سره به چل کوي، ورو ورو له جهنمه

لرې کیږي ان تر دې چې جنت ته ورسي. نو دلته به خدای وخندیږي او هغهٔ ته د جنت داخلیدو اجازه ورکوي نو کله چې ننوځي نو خدای به ورته ووائي چې څه غواړې وغواړه. هغهٔ هم چې څه یې په زړهٔ کښې راځي له خدایه به وغواړي، او خدای به د هغهٔ د غوښتلو دوه چنده ورکړي.»

مونږ دلته، له هغو کسانو چې د دې روایتونو په سموالي باوري دي، څو پوښتنې لرو:

۱- ابوهریره په خپل روایت کښې وائي چې: «خدای پاک خپل شکل بدلوي» دا بدلون څرنګه دی؟ آیا هر ځل چې خپل شکل بدلوي نو له وړاندیني شکل سره څه فرق لري او که نه؟

۲- ابوهریره وائي چې: «خدای به بیا په داسې شکل کښې راځي چې هغوي یې پیژني» دا وېنا په دې دلالت کوي چې مسلمانانو له دې وړاندې خدای لیدلی ؤ، اوس پوښتنه دا ده چې: کوم خدای چې زمونږ سني ورونو لیدلی ؤ د هغه خدای څیره څنګه وه؟

۳- بله دا چې ایا خدای پاک د انسان په شان جسم لري او یوه خاصه اندازه لري چې مومنان ورپسې جنت ته روان وي؟

۴- آیا خدای خاندي او په خپلې خنده سره، بدکاره او جهنمي سړی بخښي او جنت ته یې ننباسي؟ که داسې وي، د قیامت د ورځې حساب کتاب به څۀ کیږي؟ او ثواب او سزا چرته ده؟ او په دې حال کښې (سزا او جزا) څه ګټه لري؟ او د حیرانتیا خبره دا چې د خلفاو د مکتب حدیث شناسو عالمانو دا روایتونه د ایمان او توحید په کتابونو کښې ذکر کړي دي!

او د همدغو روایتونو په سموالي باندې د عقیدې له امله وهابیان د خدای پاک لپاره د جسم قائل شوي دي.

د خلفاو د مکتب دغه روایتونه د مومنانو په وسیله د خدای د رؤیت (لیدلو) په حقله وو، خو دحضرت محمد ﷺ او د هغه حضرت د پاک آل د مکتب د روایتونو خلاصه په دې اړه داسې وه چې د پیغمبراکرم ﷺ د وصي (حضرت علي ؑ) په وروسته دلیل کښې د خدای رؤیت

(لیدل)، قلبي رؤیت بللے او له سترګو سره د خدا ے لیدل یې نفي کړي دي. او مونږ پوهه شوو چې کله هم د «رؤیة اللّه» الفاظ په اسلامي سرچینو او منابعو کښې پیدا شي نو مراد یې قلبي رؤیت (د زړهٔ په سترګولیدل) دے چې د ایمان د حقیقت په وسیله داسې د زړهٔ سترګې تر لاسه کیږي، او له امام رضاعلیه السلام څخه د شیخ صدوق د نقل کړې شویو روایتونو په استناد سره وایوو:

سترګو سره د څیزونو رؤیت او لیدل له مادي جسمونو سره تعلق لري خو کوم موجودات چې جسم نهٔ لري لکه روح نو هغه د جسم په سترګو سره نهٔ شي لیدل کېدې او یوازې د نښو نښانو له لارې پیژندل کیږي. او خدا ے پاک مادي جسم نهٔ لري چې د سَر په سترګو سره ولیدې شي، بلکې هغه پاک ذات یوازې د هغهٔ د قدرت او علم او حکمت او د نورو ربوبي صفتونو د نښو نښانو له لارې پیژندل کیږي.

او په بل روایت کښې، امام رضا د یوې پوښتنې په ځواب کښې چې د دې روایت: «خدا ے تعالی خپل کلام او خپل دیدار (رؤیت) د حضرت موسیٰ او حضرت محمدصلی الله علیه وآله تر

مینځ تقسیم کړ» د سموالي او ناسموالي په حقله شوې وه، دا روایت دروغ بولي او فرمائي: «که داسې وي نو د خدا ے دا مبارک ایتونه چا پیریانو او انسانانو ته راورسول لکه چې فرمائي: سترګې هغه نهٔ ګوري خو هغه سترګې ګوري، مخلوقات د هغه له لیدلو او درک کولو عاجز دي او هیڅ څیز د هغهٔ غوندې نهٔ د ے؟»

او هغه وخت چې پوښتنه کوونکے، د امام وېنا د دې روایتونو تکذیب(دروغوالے) ګڼي، امامؑ فرمائي: «هو! کوم روایت او حدیث چې د قران پاک مخالف وي، هغه دروغ ګڼم.»

پېغمبراکرم ﷺ ته خدا ے پاک حکم ورکړ چې قرآن او اهلبېتؑ د اسلام د پیژندني لپاره تله او معیار وګرځوي، خو ځینې مسلمانان [که څه هم] اهلبېتؑ د دې معیار جُزء نهٔ مني، خو ټول په دې خبرې اعتراف کوي چې قران شریف د اسلام د پیژندګلو معیار او تله ده.

په داسې حال کښې هم، د خلفاو د مکتب پوهان په ځا ے د دې چې روایتونه قران سره ؤتلي چې د حدیثونو سموالے او

ناسموالے ورته روښانه شي د قران تفسیر او معنا د دغو روایتونو په رڼا کښې کوي، یعني هغوي دا قران معیار نۀ دے ګرځولے بلکې د ابوهریره او کعبالاحبار او د هغۀ په شان د نورو حدیثونه یې معیار ګرځولي او هغه حدیثونه «سنت نبوي» نوموي او خپلو ځانونو ته هم د «اهل سنت» نوم ورکوي.

هغوي د قران پاک مُحکَم ایتونه له خپلې ظاهري معنو څخه منحرف کړي دي او خپل دې کار سره یې د قران معیاروالے تر پوښتنې لاندې راوستے دے.

مونږ ولیدل چې امام رضا علیه السلام تینګار کوي چې قران شریف د روایتونو د سموالي معیار او محور دے او که یو روایت له قران شریف سره مخالف وي نو هغۀ ته څه پام نۀ دي کول پکار.

او د هغو کسانو په رد کښې چې څو د خدا ے رؤیت او په سترګو لیدل ممکن ګڼي د خدا ے دا ایت تلاوت کوي چې:

﴿لَّا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَهُوَ يُدۡرِكُ ٱلۡأَبۡصَٰرَ﴾؛[۱] سترګې هغه نه شي لیدې خو هغه ذات سترګېویني.

او د خدای پاک د دې وینا په حقله چې:﴿ وُجُوهٞ يَوۡمَئِذٖ نَّاضِرَةٌ ۝٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٞ ﴾؛[۲] ډېر مخونه به په دغه ورځ خوشحاله او تازه وي او خپل رب ته به ګوري. داسې فرمائي: یعني هغوي به د خدای «امر» ته سترګې په لاره وي. او د خپل پرودرګار د امر او حکم په انتظار کښې به وي. او دا ایت هم د خدای پاک د هغې وینا په شان دے چې د حضرت یعقوب د اولاد په واقعه کښې یې نقل کړې ده چې خپل پلار ته یې وویل:وَسۡـَٔلِ ﴿ ٱلۡقَرۡيَةَ ٱلَّتِي كُنَّا فِيهَا ﴾؛[۳] او په کوم کلي کښې چې مونږ دېره وو د هغهٔ ځاے نه پوښتنه وکړه. یعنې د هغه ځاے له خلقو نه پوښتنه وکړه. او

۱. سوره انعام: ۱۰۳.
۲. سوره قیامت:۲۲ - ۲۳.
۳. سوره یوسف: ۸۲.

ټول هغه ايتونه چې د هغو ظاهر د خدا ے پاک په جسم دلالت کوي په دې ډول تفسير او سپيناو ے کيږي.

په دغو اقوالو عقيد لرونکو ته «مجسمه» او «مشبهه» ويلې شي. ځکه چې هغوي د نړۍ د خدا ے لپاره د «جسم» قائل دي او هغهٔ ته يې له مخلوقاتو سره «تشبيه» ورکړې ده.

بې شکه چې د اهلبېتو امامانوعليهم السلام د داسې ايتونو تفسير بيان کړې د ے او د «ساق» او «يد» او «عرش» او د دغو په شان نورو ټکو تفسير يې روښانه کړ ے د ے، او له دا ډول جعلي روايتونو «ان اللّه خلق آدم على صورته»[1] ـ لکه چې تېر شو- يې پرده اوچته کړې ده. خو چونکه مونږ د هغو ټولو د بيانولو اراده نهٔ وه نو يوازې مو د خدا ے په صفتونو کښې له متعارضو حديثونو څو نمونې ذکر کړې او دا خبره

۱. د خدا ے تعالى د صفاتو په حقله دې کتابونو ته مراجعه کولې شئ: اصول کافى ليکوال: محمد يعقوب کليني، کتاب التوحيد ؛ توحيد شيخ صدوق او عيون الاخبار الرضا ، ليکوال شيخ صدوق.

مو په ډاګه کړه چې هر مکتب د قران ایتونه په خپلې مخصوصې نظریې سره تفسیر کوي او له همدې امله د خدا ے پاک په صفتونو کښې اختلاف رامنځته کیږي.

﴿والحمدُ لله رَبّ العالَمِينْ﴾